# افغانان څه ډول ډیموکراسۍ ته اړتیا لري؟


لیکوال: پوهاند حبیب الرحمن هاله

ژباړن: محمد اکبر نیازی




Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# افغانان څه ډول ډیموکراسۍ ته اړتیا لري؟

لیکوال:

پوهاند حبیب الرحمن هاله

ژباړن:

محمد اکبر نیازی

۱۳۹۴ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم: افغانان څه ډول ډیموکراسۍ ته اړتیا لري

لیکوال: پوهاند حبیب الرحمن هاله

ژباړن: محمد اکبر نیازی

خپروندی: د افغانستان ملي تحریك، فرهنگي څانگه

وېبپاڼه: www.melitahrik.com

کمپوز: ژباړن

ډیزاین: ضیاء ساپی

پښتۍ ډیزاین: فیاض حمید

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپکال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریك د خپرونو لړ: (۱۰۳)

یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

سرلیک مخ

لومړی څپرکی.......................................................................................۱

په لودیځ کې د ډېموکراسۍ پیدایښت او وده........................................۱

دویم  څپرکی.......................................................................................۱۴

دریم څپرکی .......................................................................................۲۸

څلورم څپرکیً.......................................................................................۴۲

اسلام او ډېموکراسۍ .......................................................................۴۵

پینځم څپرکی .....................................................................................۷۰

افغانستان او د ډیموکراسۍ سیاسي نظام.......................................۷۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحریك یادښت

د افغانستان ملي تحريك د (۱۳۹۳ ل) کال په پيل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهير کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل ديني، علمي، ادبي او ټولنيز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحريك دا ژمنه د ياد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د يوې پرتمينې غونډې په ترڅ کې يې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحريك په ياده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهير کې به انشاء الله د خداى (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبيعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دى، ډېر زيات زيار او زحمت ته اړتيا لري، خو ملي تحريك ټينګ هوډ کړى چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دى د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دى، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحريك هيله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحريك له ټولو هغو ليکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندويانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهير کې يې يو بل سره مرسته او ملګرتيا کړې او دا فرهنګي بهير يې بريالى کړى، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانۍ ورته وايي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هيله

د افغانستان ملي تحريك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## په لودیځ کې د ډیموکراسۍ پیدایښت او وده

ډیموکراسۍ له دوه یوناني کلیمو څخه اخیستل شوې چې ډیموس « Demos» د خلکو او کراټوس Kratos د حکومت په مانا سره ده.

چې بشپړه مانا یې د خلکو له خوا د خلکو لپاره او پر خلکو حکومت کول دي، دغه کلمه چې د لومړي ځل لپاره په لرغوني یونان کې وکارول شوه، نو د یوداسې حکومت استازیتوب یې کاوو چې په هغې کې خلکو په حکومتي عکس چې د یوې پیاوړې ډلې یا طبقې Elite یا یو مطلقه حاکم Autocrat یا اولیګارشي له خوا ځارل کېدله، او د حکومتي چارو په پرمخ بیولو کې یې پراخه ونډه درلوده.

په مختلفو وختونو کې د ډیموکراسۍ تعریف پدې موخه چې داسې فلسفه بیان کړي څو وکولای شي پکې د خلکو حق او واک ورکړل شي له مخکې څخه د ټاکل شویو اهدافو مطابق خپل سیاسي او ټولنیز موسسات مستقیمآ یا د استازیو لخوا وځاري.

له همدې پلوه ډیموکراسۍ بیلابیلې ماناوې لري

۱ــ هغه حکومت چې د یو هیواد ټولو وګړو ته په سیاسي تصامیمو او پریکړو کې حق ورکړي؛ او ددې ډول حکومتي نظام په چوکاټ کې د حکمروایۍ د اصل پر اساس اکثریت عمل کوي چې دا ډول یې معمولآ د مسقیمې ډیموکراسۍ په نوم یادیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲ــــ هغه ډول حکومت چې عام وګړي خپل سياسي تصاميم پخپلــه نــه بلکې د استازو په واسطه ونيسي او د ځان په وړاندې مسئول پخپله ګڼل کيږي دا ډول حکومــت د ملــت د اســتازيو Representative دغوښــتنو پربنسټ ډيموکراسۍ بلل کيږي.**

**۳ـ هغه حکومت چې د اکثريتو حق او صــلاحيت د اساســي قــانون پــه محدوده کې د اجرا لپاره کيښودل شي او هدف يې د ځينو فردي او ډله ايزو حقونو لکه: د بيان د ازادۍ حق، د مطبوعاتو د ازادۍ حــق، د ديــن ازادۍ، په ازاده توګه د مذهبي مراسمو ترسره کولو حق او نورو ترلاســه کول وي.**

**دا ډول حکومتي نظام د لېبرال ډيموکراسۍ يا مشروطې Constitutional په نوم ياديږي.**

**د فلسفې پر بنسټ ډيموکراسۍ د افرادو د حقونو برابروالي ته درنــاوی لري او افراد د نورو له منګولو څخه ژغوري.**

**البته د ډيموکراسۍ په نظام کې هغه وخت په افرادو قيود پلي کيږي کله چې هغوی په مستقيم يا د استازو په واسطه او ياهم ټول اکثريــت ددې قانون په تطبيق کې رضايت ښودلی وي او دغه قيود په ټولو باندې په يو ډول پلي شي.**

**د ډيموکراسۍ نظام د لومړي ځل دپاره د لرغوني يونان په ځينو دولتــي ښارونو City States کې رامينځته او په اتن کې خپلې غوره مرحلــې تــه ورسېد.**

**پدې ډول مستقيمې ډيموکراسۍ کې د ښار ټول اوســېدونکو پرتــه لــه ښځو او غلامانو چې د سياسي حقوقو څخه بې برخې ؤ، په يوځايي توګه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دولت اجرائيه قوه جوړوله او د اجرائيه قويې دنده به يې په نوبت سره پرمخ بيوله. ښاريان به د قضا د دندې د ترسره کولو او د منصفه هئيت د غړيتوب لپاره د پچې اچولو پر بنسټ ټاکل کېدل، دغه راز ښاريانو د قانون په جوړولو کې په مستقيم او غير مستقيم ډول برخه اخيستله د ښځو او غلامانو پرته به ټول د ښاري دولت د شورا بالقوه غړي ګڼل کيدل، په هغه ځای کې د نن په څير قوی تفکيک وجود نه درلود.

ټولو ښاريانو به د اجرائيه او مقننه قوې د چارو ترسره کولو واک درلود او ماموران به د خلکو د اسامبلې په وړاندې مسئول ګڼل کيدل.

ددې ډول ډيموکراتيک نظام رامينځته کول او پلي کول له دې ريښتينولی څخه سرچينه اخلي چې ديو ښارنفوس په نادره توګه له لس زرو څخه ډير او ټول به له سياسي روزنې څخه برخمن وي.

د يونان ډيموکراسی يوه لنډه تاريخي پېښه د اتن ډيموکراسی د نورو ښکاره ډيموکراسېو په څېر د ايټاليا په اغازين او کليسايي ښارونو کې د امپراطور او شاهنشاه د فکر په وړاندې مقاومت ونشوکړای او له منځه لاړ.

په منځنيو پېړيو په اروپا کې نظرياتو او افکارو وده وکړه، چې دغو نظرياتو د اروپا د معاصرې غربي ډيموکراسی پديدې ته زمينه برابره کړه، له هغې ډلې څخه يو هم د استازيتوب نظريه وه د طبيعي قوانيو فکرونه«Natural Law» د طبعي حقونو په نظر Natural Rights » وده او پرمختګ وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پدې مانا چې د خلکو حقوق په ځانګړي ډول د خپل برخليک ټاکلو حق لري او څوک يې ورځخه نشي اخيستلای دغه نظريه د ټولنيز قرارداد له نظريې سره يوځای شوه.
د ټولنيز قرارداد نظريې پر بنسټ حاکمان او خلک د يو قرارداد لــه لارې چې دوی پکې متقابل مکلفيتونه لري سره يوځای کيږي.
که چيرې د ښار پاچا خپل مسئوليتونه په سمه توګه ترسره نــه کــړي او ياهم د چا په حقوقو تېری وکړي نو امکان لري چــې خلــک د واک حــق ترې بيرته واخلي او د هغه واک له ګدۍ څخه يــې ليــرې کــړي، چــې د قرارداد په اساس يې هغه ته ورکړی دی، دغه نظريــه چــې د جــان لاک لخوا څرګنده شوې وه د انګلستان په پارلماني ډيموکراسۍ يا مشــروطه شاهي باندې خورا تاثير واچوو.
دغه موضوع په اجتماعي قرارداد چې د ژان ژاک روسو اثر ده پــه ســمه توګه واضيح شوېده. همدې څېز د متحد ايالاتو او فرانســې انقــلاب تــه فلسفي قانوني مشروعيت ورکړ.
د امريکا په لويه وچه کې انګليسي کډوالو د پولــو شــرايطو تــه داســې اشاره وکړه چې د فرد په اهميت باندې ډير تينګار وکړي.
دغه امر د ځينو ډلو د اړوندو امتيازاتو د له مينځه وړولامل شو. دغــه راز داسې نور عوامل هم د يو ډيموکراتيک سياســي جوړښــت د رامينځتــه کېدو سبب ګرځي چې وررسره مدني ازادۍ او فردګرايي هم پرمختــک کوي.
په بل ډول ننی ديموکراتيکې مفکورې تر يوې کچې د اروپــا د منځنيــو پيړيو مفکورو په ځانګړې توګه د ديني، طبيعی مفکورو او مروجو حقوقو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره ورته والی لري. ډیموکراتیکو فعالیتونو دهغو پاچاهانو په کړنو سره پرمختګ وکړ چې د خپلې مشرۍ په قلمرو کې د سیاستونو په پلان کې یې د سیاسي او اجتماعي ډلو له خوا د مالیاتو د وضع کول شامل کړل.
په هغه وخت کې د مختلفو ډلو یوځای کیدل د پارلمان پیدایښت یا د نني قانون جوړونې اسامبلې جوړوي.
په عقلاني او اجتماعي ژورو پرمختګونو په ځانګړې توګه د طبیعي حقوقو د موضوع په څرګندېدو او د ژوند په سیاسي برابرۍ کې د متحدایالاتو او فرانسې د وګړو د افکارو او انقلابونو وندې تر نورو ډېر او د نور له لورې وستایل شوه، د یونان ښاري دولت د ډیموکراتیک نظام له نسکورېدو څخه تر ننۍ پارلماني ډیموکراسۍ پورې د ډیموکراسۍ په څېړنه کې یوه تشه موجوده ده چې موده یې تقریباً دوه زرو کالو پورې رسیږي.
نوولسمه او شلمه پیړۍ په هغه نوم پیژندل کیږي چې د ډیموکراسۍ فلسفې په ډیرۍ غربي هیوادونو کې د حکمروایي پر فلسفې غلبه کړې، او د رایې اچونې حقوق، په ازاداه توګه د پارلمان د غړو او اجرایئه قوه رئیس ټاکل د ډیموکراتیکو حکومتونو د مرکزي موسساتو په څېر دي، پدې دوره کې د خلکو ارادې دا توان پیداکړ چې په خپلواک ډول او پرته له ویرې عواقب بیان کړي.
دغربیانو دغه نظر چې د وګړو مساوي حقوق یوازې د سیاسي ډیموکراسۍ له لارې تامینېدای شي د سوسیالیستانو او نورو ډلو له چلینج سره مخامخ شو، او ټینګار یې وکړ چې اقتصادي ډیموکراسۍ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اقتصادي برابرۍ، عامه مالکیت او تولیدي وسایل چې اقتصادي بنسټونه دي سیاسي د ډیموکراسۍ د ټینګښت سبب ګرځي.

**د ډیموکراسۍ شرطونه**

د ډیموکراسۍ د پورتنیو ډولونو لپاره بیلابیل شرایط وجود لري او پرتـه له دې شرطونو نشو کولای چې هره یوه یې پخپل ځای وکاروو، ځکـه دا یو طبیعي امر دی چې د مستقیمې ډیموکراسۍ د پکار وړنـې شـرایط د نفوسـو یـو کـوچنی او نسـبتآ متجـانس جوړښـت دی. او د پارلمـاني ډیموکراسۍ پکاروړنې شرایط یې د لوی، پراخ او غیرمتجانس نفوس او د څانګیزې(تخصصي) پوهې منل دي.

هر هیواد د خپل ټولنیز پرمختګ له مرحلې سره یـوې متناسـبې او یـو ډول ډیموکراسۍ ته اړتیا لري په یوه هیواد یا ټولنه کـې د هغـې سـره متناسبې ډیموکراسۍ پرته په بل ډول ډیموکراسۍ ټینګار کول بې ګټـې وي.

لکه په اوسني افغانستان کې چې د شوروي اتحاد د تیري څخه وړانـدې په منځنیو پیړیو کې د قبیلوي نظام سـره نښـلول شـوی ؤ، د ډول ډول لاسوهنو او مختلفو هیوادونو ته له مهاجرت سره یې نفـوس غیرمشـابه شو. او ددې لپاره کولای شو د پرمختللې لودیځې ډیموکراسۍ څخه ګټه پورته کړو.

د ملل متحد د استازیو ناکامي لامل هـم همـدا ؤ. نـو اړینـه ده چـې د هرهیواد لپاره باید د هیواد هر ډول شرایطو سره سمه یو ډول ځـانګړې ډیموکراسۍ پلي شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان لپاره هم اوسنيو سختو او ځانګړو شرايطو ته په کتو سـره يو ډول ډيموکراسۍ طرح او د ميکانيزم سره سمه پلي شي.
امکان لري چې ټول پدې سره همغږی وي چې له کومې لارې کولای شو يوه وروسته پاتې او کوچنۍ ډله ډيموکراټيکه کړو او يا وغواړو دغه نظر په يوه پراخ سازمان پلي کړو.
دخيړنې له اصولي او قانوني لارې څخه په ګټې اخيسـتنې يـې د پلـي کولو هڅې پيلوو. د يو پراخ سازمان شرايط د ډيموکراتيک نظام سره يـا هم د استازو لـه خـوا د حکومـت رامنځتـه کـوونکي دي، نـه د هغـې ډيموکراسۍ پکاروړنه چې په يوه متجانسه او کوچنۍ ډله د پلي کېـد وړ وي.
ټاکنې او استازيتوب پخپل ذات دوه پيچلې موضوعګانې دي د يوې ډلې استازيتوب له يوې خوا دا غښتلې ځانګړتيا لري چې اسـتازيتوب بايـد وکړای شي ځان د ځينو ډلو له غړو سره مشابه او له ځينو يې ځان پورته وګڼي، پدې مانا چې هم خپلې اړتياوې او هم د نورو په پام کـې ونيسـي خو له قانوني پلوه يو شخص هغه وخت د نورو استازی ټاکل کيـږي چـې خپله د وکيل کړنې د موکلانو سره تړاو ولري. همدا کړنې بايـد مـوکلان سره يوځای کړي او د پورتنۍ دريمې مانا له پلوه يـو شـخص تـه د واک ورکولو يا نه ورکولو سره کولای شي د نورو د ګټـو وکالـت وکـړي، پـه ډيموکراتيک استازيتوب کې دا اړينه نه ده چې په پورتنۍ مانـا دلالـت وکړي. د مقننه قوې ټاکل شوی غړی بايد د هغه چا له خوا چې رايه يـې ورکړې او يا هغه چا چې رايه يې نه ده ورکړې ترمينځ توپير ونه کـړي او داسې فکر وکړي چې فلاني کسانو دی برياليتوب ته رسولی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټاکل شوی غړی باید هغه موکلانو چې ترمینځ چې د ته یې رایه ورکـړې یووالی رامینځته کړي. مونږ باید د داسې کړنو اخلاقي مسئولیت په غاړه وانه خلو چې هغه چا له خوا ترسره شوی وي چې زمونږ استازیتوب کوي ځکه مونږ ددې لپاره خپله رایه ورکړې چې دی له مونږ څخـه بـر دی او زمونږ استازیتوب کولای شي.

سیاسي استازیتوب د پورتنۍ دریمې مانا پر بنسټ له نږدې او لېرې ګټو څخه هم وکالت دی.

داسې فکر کیږي چې یو سیاسي استازی دنده لري څو د خپلو موکلانو او د ټولو وګړو د ګټو ساتنه وکړي حتا د یوې کـوچنۍ ډلـې چـې د ده پـه ټاکنه کې یې برخه هم نه وي اخیستې. پر همدې بنسټ په افریقا کـې د مقننه قواوو استعمار د والي له خوا نوماند کیږي څو د محلي نفوسو چـې په ټاکنو کې هیڅ برخه نلري هم استازیتوب وکړي،

دغه موضوع د ډیموکراسۍ له پلوه د یوه ګوندي نظام سره د پرتله کولـو وړ ده ځکه چې د اقتدار پر سره ګوند خلکو ته بلنه ورکوي څـو د دوی د ګوند نوماند شوي شخص ته رایه ورکړي. او ترڅنګ یې دا توپیر نه کوي چې دغه استازی په کوم شوق او ذوق د خپلو موکلانو د ګټو ساتنه کوي خو دغه عمل ډیموکراتیک استازیتوب نه ګڼل کیږي ځکه چې ټاکوونکو د همدې استازي په ټاکلو کې هیڅ ونډه نه درلوده.

د ډیموکراسۍ دغه نظر نشي کولای څو سرپرستي بشپړه کړي او پـدې کې د ردولو د شونیتا ترڅنګ په خپلواک ډول د نوماندۍ اجازه هم شته.

دهیواد د ټولو اتباعو له خوا د اوسنیو استازو ردول او ټاکل په یوه ټولـه ایزې دیموکراسـۍ (mass Democracy) سـره ترسـره کېـدای شـي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډیموکراتیک استازیتوب د مسئولیت مفاهیم له ټاکنو سره ډیره نږدې اړیکه لري له هغه ځایه چې د استازو ټاکنې له ډېرې مودې وروسته ترسره کیږي نو دوی مجبوریږي چې د خپل وکالت د ساتنې لپاره د خپلو تجربو او اړتیاوو سره سم د موکلانو په خوښه کارونه ترسره کړي څو د هغوی په زړه کې خپله مینه پیدا او ځان پلوي یې کړي.

## ډیموکراسي او د خلکو حکمروایي:

دا ویل کیږي چې په یو ډیموکراتیک نظام کې د خلکو اراده حاکمه وي مگر ادعا کیږي چې په یو ډیموکراتیک نظام کې مشري د اکثریتو حق ده، خو ایا دا شونې ده چې یو بیوزله اکثریت په یو غني او شتمن اقلیت مشري (حکومت ) وکړي؟

په ډیموکراتیک نظام کې د خلکو د ارادې د خپلواکیت خبرې کیږي خو ایا په ریښتیا سره هم په ډیموکراتیک نظام کې خلک د ارادې د خپلواکیت څخه برخمن دي؟

ددې ډیره شونتیا ده، چې د یوې ټولنې یا ټاکنیزې حوزې خلک د نالوستی، بې علاقگی، گوندي او نورو خصوصیاتو له مخې د چاپیریال د دندو په ویشنه کې یو ډول او ځانگړې اراده ونلري. کیدای شي هغوی د داسې لارو او پالیسو له لارې هوکړې ته ورسیږي چې ټول یکې ځان گډ احساس کړي او یا هم په هیواد کې د یو ستر ناورین د رامینځته کیدو پر وخت په ډله ایزه توگه ټول د هغه د لمنځه وړلو لپاره ځان مکلف او له تیښتې پرته یکې ځان احساس کړي دا خبره د دوی دشخصي گټو په نظر کې نیولو سره یو ډول اراده هغه هم ټوله ایزه اراده رامینځته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څه هم پداسې حالاتو کې د ټوله ايزې ارادې خبرې په ځای وي، خـو بياهم حالات دومره لنډ او تنګ دي چې نشو کولای په بشپړه توګه د يو ډيموکراتيک حکومت عمومي تيورۍ جوړه کړو.

انسان هغه وخت د ټوله ايزې ارادې، تصميم اوعمل په اړه خبرې کـولای شي چې وګړو ته په ځانګړې توګه هغه چاته چې د ټولنې په استازيتوب واک ورکړل شوی وي او خپلواک وي.

پدې مانا که چيرې وويل شي ( پارلمان پريکړه کړې ....) کـه قـوانين دا څرګنده کړي چې څوک د پارلمان غړي جوړيدای شي او د کومـو لارو او کړنو په ترسره کولو سره د پارلمان پـه پريکـړو کـې ارزښـتناکه ونـډه درلودای شي ترڅو په وسيله يې پارلمان ته د منسوبيدو لپاره د خلکـو په مينځ کې اعتبار او قانونيت پيداکړي.

ايا نور اصول او لارښوونې شته چې پر بنسټ يی وويل شي چې وګـړي يوازې په ټاکنو کې د رايې اچوونې، د اکثريتو لارو د اصل په پلي کولو او ټولپوښتنو سره د ارادې او عمل څرګندونه کولای شي؟

البته په يوه ټولنه کې ددې اصل په پلي کولو سره چې په مختلفو طريقو د خلکو رايی اچوونه او په ټاکنيزو حوزو کې له بيلابيلـو لارو څخـه پـه ګټې اخيستنې سره مختلفې پايلې ترلاسه کيږي چې هر يوه يې پخپلـه قانوني محدوده کې د خلکو ارادې څرګندولای شي.

د ډيموکراسۍ د پلي کولو مدعيان پدې اند دي چې په اړوندو ټولنو کـې ټولو چارو ته د خلکو يا ملي ارادې له مخې پاملرنه کيږي مګر دغه ادعـا يوازې په تخيلي نړۍ کې وجود لـري. د سـرمايه داري نظـام سياسـي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډیموکراسۍ د ځان لپاره یوه لار لټوي چې د واکمنو پرغوښتنو راڅرخي په واقیعت کې دا خبرې د پانګوالو د ګټو پر محور راڅرخېږي.
سرمایه داران او واکمن یوازې د خپلو شخصي ګټو په اړه فکر کوي او دې موخې ته د رسیدو لپاره په هر لازم وخت او ځای کې له خپل ځواک څخه ناوړه ګټه پورته او د خلکو د تیښتي لپاره د سرمایه دارانو او واکمنو اراده د ماټریالبستانو ( د خلکو او ملت ارادې) لمنځه وړي
په واقیعت کې تاریخي ماټریالیزم په سمه ده او وایي:
ځواکمنه طبقه په ټولنیز نظام حکومت «مشري» کوي او دا مشري د دوی په ګټه او د نورو په زیان وي، دا خبرې په هغوټولنو کې چې د کار محراق یې مادي فکرونه جوړوي او له هغه ځای څخه د معنوي او اخلاقي فکرونو بوی هم نه راځي صدق کوي.
واکمن د خپلواکو ټاکنو، پارلماني حکومت، اساسي قانون او نورو مختلفو سازمانونو ترشا د خپلو ګټو د ترلاسه کولو لپاره ډول ډول ناوړه کړنې ترسره کوي. خو دا بې خبره او خوش باوره ولس دهمدې واکمنو په ښکاره قانوني کړنو تل غولېدلي او په هغوی کې یې دا فکر له منځه وړی چې واکمن خپل ولس ته د ژوند د هوساینې اړوند د اړتیا وړ وسایلو، خپل هیواد او ولس ته ژوند د اسانتیاوو برابرولو په لټه او فکرکې نه دي.
د اخلاقي، اداري، جنسي، رشوت، اختلاس، تقلب، وژنې او نور فسادونه په سیاسي یا اقتصادي ډیموکراسۍ لرونکوهیوادونو کې د واکمنو له شخصیتونو څخه پرده پورته کوي او دا ثابتوي چې خپلواکۍ او ډیموکراسۍ لا تراوسه هم تخیلي بڼه اعتبار لري چې لاسرسی ورته خیالي، ناشونی او لیونتوب ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لیبرال ډیموکراسۍ د سرمایه دارانو په افکارو کې تر یوې کچې د فاشیستي انګیزو څرک لګیږي، او په تاریخ کې یې تر ټولو مهم عمل د امریکا متحده ایالاتو د پخواني رئیس جمهور جان کینډي وژنه وه. دامریکا سرمایه داري نظام هغه سوله ایزې لارې چې کنیدي په پام کې نیولې وې له خپلو حالتو سره سمې نه لیدلې له همدې کبله یې هغه ونه منلې. ځکه هغه ګامونه چې کنیدي د بې نظمۍ د کمښت او د نړیوالې بې اعتمادۍ په برخه کې پورته کول بیلابیل مرګونې او جګړه ایزې وسلې ته اړتیا وه او ددې اړتیا د بشپړلو پرمهال به یې په تولید کې کموالی مینځته راتلو چې د کمښت په صورت کې به د وسلې جوړونې په فابریکو کې د سرمایه دارانو سرمایه ګذاري هم په څرګند ډول بې سرنوشتي کیدله له یوې خوا په خپلسري ډول د وسلې خرڅونه په عوایدو کې کموالی او له بلې خوا هغوی له کنیدي سره د دښمنۍ لپاره وهڅول شول چې د همدې دښمنۍ په زیاتوالی سره یې د ځان خلاصون په موخه د هغه د وژنې دسیسه او توطئه جوړه کړه، ددې با وجود سرمایه داري نظام بیا هم دا نه مني چې سرمایه دار د اقلیتو د ګټو پر اساس ټینګ او د اکثریتو ګټې د خپلو ګټو څخه قربانوي، او د خپلو ګټو د ساتنې په موخه له بیلابیلو دیکتاتوري، د ډیموکراسۍ د نظام سره سخت دریځه مخالفت او نورو لار څخه بې دریغه ګته پورته کوي.

ددې بحث په پای کې باید پردې ډیرټینګار وکړو چې تراوسه په هیڅ ډیموکراتیک نظام کې بیوزله اکثریتو حکومت نه دی کړی او که کړی هم وي نوتش په نوم، او نه به په راتلونکي کې پدې کار وتوانیږي. د ډیموکراسۍ د مفکرینو د ادعا خلاف د ټولنې واک او مشري به تل د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوچني مګر ځواکمن، شتمن، سـرمايه دار، فيـوډال، بـانفوذ او ميراثـي اقليت په لاس کې وي.

ايا ددې امکان شته چې په فيوډالي ټولنه کې پرته له فيوډاله، په سرمايه داري ټولنه کې پرته له سرمايه داره، په شاهي ټولنه کې پرته له شهزاده ګانو، په کمونيستي ټولنه کې پرته له کمونستانو، په مذهبي ټولنـه کـې پرته له مذهبيانو، او په قوماندان الطوايفي ټولنه کې پرته له د قوماندانانو پرته نور بل څوک د ټولنې چارې په لاس کې واخلي؟

نو ددې پوښتنې ځواب هم په يو نه يو باندې ټينګار کول دي ځکه نور د حکومت د ترلاسه کولو لپاره نه له شرايطو او نه له وسايلو څخه بـرخمن دي.

البته د خپلواکۍ، ډيموکراسۍ، ټاکنې، دکانديدو او کانديـدولو حـق پـه سرمايه داره خاوره کې پرته له سرمايه داره، په کمونيستي ټولنـه کـې پرته له کمونيست، په فيوډالي ټولنه کې پرته له فيـوډال، پـه مـذهبي ټولنه کې پرته له مذهبي څوک نشي کانديداى اوکه چيرې احياً کانديـد هم شي نو ټاکنې نشي ګټلايو ټاکنې په هر ټولنـه کـې دا ډيموکراتيکـه خپلواکي وربښي چې پر قدرت ولاړ د نوماندانو له طبقې يـو وټـاکي پـه واقيعت ددوى څخه د هـر يـوه ټاکنـه د ټـاکونکو لپـاره ګټـوره نشـي تماميداى.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم څپرکی
# په غرب کې د لیبرال ډیموکراسۍ پیدایښت اوپه نورو یی پلي کول

په شپاړسمه پیړۍ کې د مذهبي اصلاحاتو خوځښتونو له لویدو وروسته Reformation)، په ۱۷۷۶ کال کې د امریکې متحده ایـالاتو د خپلـواکۍ اعلامیه،۱۷۸۹ کـال د فرانسـې انقـلاب، د اتلسـمه پیـړۍ پـه پـای او نوولسمې پیړۍ په لومړیو کې صنعتي انقلاب، غربي صنعتي هیوادونـو د استثمار د لمنې پراخوالی، تعقیب امیزه او استبدادي فکرونو ورځ تربلې خپل ځای د ازاد نظر قضاوت او رایی اچوونې ته پریښود.

په سیاسي افکارو کې د مناسبو ډیموکراتیکو اصلاحاتو فضـا رامینځتـه کول او د سیاسي احزابو تاسیس ډیموکراسۍ په ځانګړې توګـه لیبـرال ډیموکراسۍ ته د روښانتیا او پرمختګ زمینه برابروي.

په ۱۹۱۷ کال کې په روسیه کې د ټولنې د اصـلیت پـر بنسـټ د فـرد د اصلیت او د سرمایه داري هیوادونو په وړاندې سخت دریځه حریف پـه څیرلومړنی‌سویالیستي نظام رامنځته شو.

په همدې ډول په ۱۹۴۵ کال کې د دویمې نړیوالې جګـړې پـه پـای تـه رسیدو او د دوو هیوادونو د امریکـې متحـده ایـالات او سوسیالیسـټي شوروي اتحاد په دوو لویو زبر ځواکونو بدلیدل او د یو نظامي تـړون پـه راس کې د دواړو واقع کیدل وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ځانګړې توګه په ۱۹۷۸ کال ۷۰ بیلیون ډالرو د لګولـو وروسـته پـه افغانسـتان کـې د شـوروي اتحـاد او د پرولتـاري انترناسـیونالیزم د ستراتیژۍ ایډیالوژیکي ماتې، د ویشل غوښتونکو خوځښتونو مینځته راتګ، د هغو هیوادونه خپلواکۍ چې د شوروي اتحاد په زور یـو لـه بـل سره تړلي شوي وو او د ازاد اقتصادي بازار پـه مخنیـوي کـې د خلکـو تمایلات رامینځته شول.

په سوسیالیستي او د ختیځې اروپا په ولایاتو کې د خصوصـي سـکتور جوړونه، په شـوروي اتحـاد کـې د دوو نویـو پدیـدو ( ګلاسنوسـت او پرستورویکه) څرګندیدل، داقتصادي او سیاسي لارو پرانستل، لـه اوږد او دروند خوب څخه د مسلمانانو را پاځیدل، د خوځښتونه را پیدکیـدل، اسلامي انقلابونه او په اسلامي ایډیالوژۍ سره د غرب د عیسوي افـرادو جلبول، هغوی تـه اسـلامي ایـډیالوژۍ ورکـول او اسـلام تـه رابلـل د ډیموکراسۍ په ځانګړې توګه د لیبرال ډیموکراسۍ څخه په مبارزه کې د یوې جنګي او تکتیکي وسیلې په توګه پراخـه ګټـه اخیسـتل. لیبـرال ډیموکراسۍ په غرب او نورو صنعتي هیوادونو کې د پـانګوالې طبقـې د ایډیالوژۍ پر بنسټ په دوو محورونو ( د فرد په اهمیـت او ارزښـت او د فرد په خپلواکۍ او ګټو ) را څرخي.

سرمایه داره طبقه د صنعتي تولیداتو ترلاسه کولو لپاره د خپـل هیـواد بیوزله وګړي اوهغه هیواونه چې د دوی تر تسلط لاندې او یا هم وروسته پاتې وي له استثمار څخه یې ګټه پورته کوي.

د فرد د اصالت مخنیوی او تحکیم سربېره پردې چې خپل اسـتثمار تـه اصلیت وربښي بلکې د اوږدې مودې لپاره تسلط ته هم قدرت ورکوي، او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پدې لاره کې ډيرې مندې تررې او هلـې ځلـې کـوي؛ غربـي سياسـي ډيموکراسۍ د سوسياليستي سياسي اقتصادي ډيموکراسۍ په خير پـه تخيلي فکرونو باندې ټينګه ده.

په حاکم هيواد متحده ايالاتو امريکا کې هم ليبرال ډيموکراسۍ د خپلـو اصولو سره سمه نه ده پلي شوې، غربيان د لېبراال ډيموکراسۍ له مخ پر ودې حالت څخه خوښ وو، په همدې ډول د اسيايي، افريقايي، او لاتينې امريکا خلک او د فردګرايـي نظـام پخـواني رقيـب ( ختـيځ اروپـايي) هيوادونه هم د دې حالت تر اغيز لاندې راغلي ؤ، او همـدا بريـا د ځـان لپاره ډاډ ګڼي، خو دا ټکی بايد په پام کې ونيسي چې په تيرو کې هـم دا ډول فکرونـو ورتـه لاس ورکـړی وو، او داسـې ښـکاري چـې لېبـرال ډيموکراسۍ نړيوال قبوليت ترلاسه کړی.

دغه راز غربي ورځپاڼو په ۱۹۰۰ او ۱۹۹۱ کلونو کې پداسـې زړورتيـا ددې وړاندوينه کوله، چې شلمه پيړۍ د لېبرال ډېموکراسۍ د جګړې د پـاتې مصيبتونو لسيزه ده. او بل هيڅ نظام به ورسره د سـيالۍ کولـو تـوان او ځواک ونلري.

په حقيقت کې يوه ټولنه هغه وخت د بشپړې ډېموکراسۍ څخه برخمنـه کيږي چې د خپلو خلکو مدني او هم سياسي ډيموکراسۍ تضمين کړي.

ډيموکراتيک نظام بايد نه يواځې خپلو خلکو ته د رايې اچوونې او مشـر ټاکلو حق ورکړي، بلکې د هغوی د بيان ازادۍ څخه د ګټې اخيسـتنې او د سياسي ګوندونو تاسيس هم په قانوني او هم په عملـي بڼـه تضـمين کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دا ډول تضمین د قدرت لرونکو د سیالو لپاره ازادو اود پاکو ټاکنو ګټلو ته زمینه برابروي.**

**خو د لیبرال ډیموکراسۍ ملاتړ هېوادونو کې هغه اثار چې د دوی له خوا لیکل شوي او چاپ شوي دي تر ډیره یې پاملرنه د ټاکنیزو میکـانیزمونو او تر لږې کچې یې مدني ازادۍ ته چې د ټاکنو په خپلواکیت اغیزمنه ده شوې.**

**ریموند ګاستیل په کال ۱۹۹۱ کې د امریکایي ډیالوګ مجلــې پــه لــومړۍ ګڼه کې د (څه ډول ډیموکرسۍ) تر عنوان لاندې په یوه مقاله کې لیکي: که څه هم ساده خو ناسمه ده چــې د ډېموکراســۍ پــه کلمــه کــې دې دانسان پټ حقوق هم د ډېموکراسۍ له ځانګړتیاوو څخه وګڼل شي.**

**د موضوع د څېړنې په موخه هغه تجربې چې پدې اړوند مې ترسره کړي وړاندې کوم.**

**له ۱۹۷۳ کال څخه تر ۱۹۸۹ پورې به ما دا هڅه کوله چې د ډېموکراســۍ پانګه په سیستمي طریقې د کارولو لپاره برابره کړم چې دوه وروســتنې شمېرې ( سیاسي حقونه او مدني ازادۍ) پکې راځي.**

**د لومړیو څو کلونو په بهیر کې ما یوه سروې کتله چــې د دوو هیوادونــو سیاسي حقوق او مدني ازادۍ سره برابرې دي.**

**خو دواړه به ما د سیاسي ازادۍ په ګټه محاسبه کولې پدې مانــا پــه هــر کچه چې ټاکنې په خپلواکه توګه ترسره شوې او هغه څوک به چې پکې واک ته رسیدل نو د ډېموکراسۍ وزن یې زیاتوو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاید د محاسبې دا ډول ماته پدې سبب د منلو وړ وي چې د یو هیواد د مدني ازادۍ په نسبت د ټاکنو او مقننــه قــوې د غــړو پــه اړه مالومــات ترلاسه کول اسانه دي.

د وخت په تېرېدو او د تجربو په زیاتوالي سره مــې د تعــادل دا تیــورۍ لېرې کړه او وروسته په څو کالو کې دې پایلې ته ورسېدم چې، که انسان له یوه کال څخه په ډېره موده کې د ډیموکراسۍ یا هم ازادۍ په اړه فکر وکړي نو دوه ډوله ډیموکراتیکي او مدني ازادۍ به یې پــه نظــر ګتــورې راشي.

دغه راز پدې برخه کې مې دا هم زده کړل چــې د مــدني ازادۍ پرتــه د سیاسي حقوقو هغه ارزښتونه چې ما یې له ټولنــو څخــه تمــه درلــوده وړاندې کوي.

پداسې حال کې چې د سیاسي حقوقو پرته مدني ازادۍ هغــه ځــانګړي ارزښتونه چې ډیموکراسۍ یې په خپرولو کې ده وړاندې کوي.

په ګڼ شمیر ټولنو کې د مدني ازادۍ غوره والی تر سترګو کیــږي، چــې حکومتونه یې د ټاکنیزو حوزو د ناخرګندو پایلو په نسبت د خلکــو ارادو ته ځواب ووایي.

او د ټوله ایزو اړیکو د وسایلو له لارې، لاریونونه او نورې خبرتیاوې هــم پکې ښودل کیږي.

څرنګه چې پوهیږو ډېموکراسۍ دوه مخالفې ریښې لري.

لومړۍ ریښه یې د هغو وګړو د غوښتنو په اړه مالومات وړاندې کول دي چې غواړي خپلې چارې پخپله اداره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او کمه اندازه پدې هکله دا فکر کوي چې خپلې ټولې چارې باید د چا له خوا اداره کړي.
په کوچنيو ډلو کې ځوانان یا هم د کورنيو مشران د پخپلو چارو کې نظر د څرګنداوي حق ته پاملرنه کوي چې دغـه قبيلـوي يـا هـم کليـوالي دېموکراسۍ ته په تاريخ کې نښه پـاتې کيـږي. د ټـولنيزو او سياســي عقايدو، ذهنيتونو او ارزښتونو پر بنسټ تعريفيږي. په ټوله کې د قـانون پلي کول او د انسان حقوق د يوې ډلې او دولت د اساسي حقوق په پرتله غوره ګڼل کيږي.
دويمه ريښه معاصره ډيموکراسۍ جوړوي په موجوده بحث کې د لبېرال کليمې څخه موخه د ځانګړو اقتصـادي نظريـاتو، د دولـت د اقتصـادي ونډې اړوند او محافظه کاري ضد نه وي.
لبېرالېزم له بيلابيلو ديني او دنيوي عقايدو څخــه ايســتل شــوی دی د انسان په بنسټيز ارزښت او د هغوی پـر غوښــتنو ټينګــار کــوي او پــه تائيدي بڼه يې ټاپه لګوي.
د لبېرالېزم په قانون کې هېڅوک ددې حق نلري چې نورو وګړو ته ددې آمر وکړي چې څه ډول فکر او عمل وکړي.
يوازې له هغو مواردو پرته چــې هرومــرو د ټــولنې پــه وړانــدې ګــواښ رامينځته کوي او هوساېنه يې تهديدوي، که څه هم ليبراليزم لرغونی او تاريخي اساس لري خو له اوولسمې پيړۍ راهيسې د ټـولنيزې فلســفې لاسته راوړنې او هڅې د همدې موخې لپاره چې د دولت د نا اعيار شوي قدرت څنځيرونو څخه ازاد او د دين لنډنظري(تنګ نظره) خلــک هــم ترې وباسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له اتلسمي پيړۍ وړاندې د قبيلوي ډيموکراسۍ په پرتلـه د لېبراليـزم د وندې کچه ټيټه وه، همدا ډول لېبرال ډېموکراسۍ سياســي نيــوکې لــه منځه وړي که څه هم دا کار پدې وروستيو کــې ناشــونی وو، خــو پــدې توانيدای شي چې هر ډول غلامي، د دليل پر بنسټ چاته رنـځ ورکــول، دنژادي اقليتونو او قومي ډلو چارې تشريح کړي.

لېبرال ډيموکراسۍ پدې باور ده چې يو فرد بايد مکلف نه کړای شي تــر څو خپل ژوند له نورو قرباني کړي د لېبرال ډېموکراسۍ لپاره فاشيزم او مختلفې ايډيالوژۍ رامينځته شوې.

ختيځې اروپايي مارکسيستې او لينستې پلويانو لېبــرال ډېموکراســۍ پدې تورنه کړه چې ګواکې د فردي ګټو څخه ډله ايزې ګټــې قربــانوو او فردي ګټې پر ډله ايزو ګټو برې ګڼي چې پدې سره نه پخــلا کيــدونکی مخالفت رامينځته کېږي.

د بشري حقوقو خوځښتونه د لېبرال ډېموکراسۍ پر عقايدو ټينــګ او د همدې سياسي نظام لاسته راوړنه ده.

دغه حقوق په هر ځای کې د بيوزله او مظلومانو د غوښتنو مرجــع ده، او هغه ټولنې چې ددې حقوقو ملاتړې دي د ټولو وګــړو طبيعــي متحــدين ګڼل کيږي.

بايد دا مو په ياد وي چې د موجوده ډيموکراتيک انقــلاب اړونــد بحــث پرمهال ناچاره يو بايد بدلون ته يې بايد پاملرنه وکړو چې د دواړو ډولونو له دودونو څخه (قبيلوي او ليبرال ډيموکراسۍ) استازيتوب وکړي.

او پام مــو وي چــې پــه ننــۍ ډيموکراســۍ کــې د لېبــرال او قبيلــوي ډېموکراسۍ د يوځايوالي پايله يوه اوږده او تاريخي پروسه ده، نه پخپله

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوښه خوځښت. همدا ډول د تاریخ له پلوه د ډېرو ډېموکراسیو سره سره د لېبرال ډېموکراسۍ په پرتله قبیلوي ډېموکراسۍ ته ډېره پاملرنه شوېده. د مودې په تېرېدو سره د لېبرال ډېموکراسۍ بنسټ اېښودنکو او امریکایي وګړو له اساسي قانون او د بشر د حقوقو له اعلامیې سره خپلې اړیکې پرې کړې.

په نړدې کالو کې د امریکا په متحده ایالاتو دې دورو ته پاملرنه کیږي او قبیلوي ډېموکراسۍ ته په لېبرال دېموکراسۍ وړاندېوالی ښوول شوی دی. پدې برخه کې د یاد هیواد له لودیځ غاړو څخه د دوېمې نړېوالې جګړې په بهیر کې د جاپانیانو ایستل یوه ښه بېلګه ښودلای شو.

عامه فکرونه ددې څرګنداوی کوي چې دنورو ډېموکراتیکوهېوادونو په څېر په متحده ایالاتو کې هم لېبرال ډېموکراسۍ غوښتونکو د فکرونو سره سم د منلو وړ نه ده. د لومړۍ نړېوالې جګړې وروسته په ډېموکراتیکې اروپا کې جګړې او د دویمې نړېوالې جګړې وروسته مستعمراتو پرمختګ او غوره والی پیداکړ.

په ډېموکراتیک انقلاب کې د سولې یوه برخه تر هغې کچې په پام کې نیول کېږي چې د لېبرال ډېموکراسۍ ذهنیتونه په قبیلوي دېموکراسۍ برلاسې شي.

کله چې وغواړو په ننۍ نړۍ کې د ډېموکراسۍ د پرمختګ غږ اندازه کړو ددې موخې لپاره لازمه ده چې مالومه کړو څو قبیلوي او لېبرال عناصر په ډیموکراتیکو خوځښتونو کې تر کومې کچې ځواکمن دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

باید په یاد مو وي چې فاشیزم په ایټالیا، جرمني او د جاپان په ډیموکراتیک کیدونکو ټولنو کې د پرمختګ په لور روان دی. او یادې ټولنې ازاد بحث او کوچنیو ډلو ته د پلتنې وسایل هم برابروي.
وروسته یې ددې توان پیداکړ چې په امتیازاتي نظام او د ډیموکراتیکو اکثریتو خلکو د جلبولو له لارې فاشیزم له پښو و غورځاوه چې په هغوی کې د لیبرال ډیموکراسۍ فرضي ریښه د کمزورتیا په لور روانه کړې وه.
د برخلیک ټاکلو غوښتنه له یوه پلوه د خپلواکۍ غوښتنه او له بل پلوه خپلواکۍ هم برعکس ورته غوښتنه لري چې د ډیموکراسۍ د اړتیا وړ ازادیو سره اړیکه نلري.
غالباً د برخلیک ټاکلو دغوښتنې وخت د قبیله ګرایي غوښتنه هم ده. او دا خبره ددې پرځای چې د بشر حقوقو لمن پراخه کړي برعکس د کوچنیتوب په لور یې بیایي دا غوښتنې په ځو وختونوکې د امریکا په سویلي برخه کې د ډیموکراسۍ د پرمختګ مخنیوي ته نږدې شویدي.
د برخلیک ټاکنه پخپله یو جایز حق دی او باید تر هغه ځایه په رسمیت وپېژندل شي چې د نورو وګړو د حقوقو د تهدید سبب ونه ګرځي. خو دا حقوق باید د هغو مدني حقوقو پر ځای چې د لیبرال ډیموکراسۍ د پرمختګ لپاره اړین دي وکارول شي.
پدې شعوري خبرتیا سره باید د ډیموکراسۍ هغه سیمې په غور سره وکتل شي چې لاتراوسه هم وګړي پکې غیر ډیموکراتیک ژوند لري او لا ډیموکراتیکې شوې نه دي او که چیرې دغه موجوده لیدنې دوام ومومي په لنډ وخت کې به د بشپړې سیاسي ډیموکراسۍ د ټینګښت احتمال را پیداشي.
که په ځانګړي ډول وپوښتوچې؛ کوم ارزښتونه باید ډیر په پام کې ونیول شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایا مونږ په رښتیا هم د داسې دیموکراتیک نظام جوړول غواړو چې په چټکۍ سره د لیبرال او انسان پالنې (هیومنیزم) هغه ارزښتونه رد کړي چې د انسان د ژوند بشپړولو لپاره اړین ګڼل کیږي؟
ایا داسې خپلواک هیواد چې په سیاسي نظام کې ښځینو ته د منځنیو پیړیو په څیر موقف ورکړي؟
ایا داسې ډیموکراسۍ به وزغمو چې تردې کچې غوښه کوونکې مذهبي او قومي مسائل رامینځته کړي چې په انسان وژنه کې یو نوی ریکارډ ټینګ کړي.
که بخت له مونږ سره یاري وکړي یا داسې لار پیداکړو چې ددې مسائلو د رامنځته کیدو او ترسره کولو مخنیوی وکړي څو هیواد له ناخوالو وژغول شي او همداسې په موجوده شکل پرمختګ وکړي؛ د خلکو د ژوند د سطحې سره سم د هغوی برخلیک ټاکلو سره به په نورو لویو لویو برخو کې نفوس ونه کړو چې ورسره داسې خپلواک سیاسي نظام ته پرمختګ ورکړو؟
ددې بحث په ځینو برخو کې به هغه خطرونه او تحولات چې رامینځته شوي څرګند شي. او یادونه یې باید وکړو چې د لیبرال ډیموکراسۍ د پلټنو لارو ته چې په یو ډول د بشر حقونو استازیتوب کوي په چټکه دوام ورکړل شي ولو که هیوادونه شکلاً هم ډیموکراتیک شي.
د همدې موخې لپاره باید داسې ښوونیزو مراکزو ته وده ورکړل شي او په ډیموکراسۍ او هغه هیوادونه چې تراوسه ډیموکراتیک شوي نه دي د لیبرال ارزښتونه ورته په پراخ ډول تدریس کړي، په ځانګړو برخو کې ددې ښوونیزې پروسې له دربدو د مخنیوي لپاره ځانګړي هیوادونه تر هغه وخت د سیاسي ډیموکراسۍ د رامینځته کولو او ټینګولو څخه ځان وساتي تر څو چې حاکم نظام او ځواکمن د لیبرال ټولنې د مفکورو په ورکولو کې فعاله ونډه وانه خلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شوروي اتحاد په خاوره کې د کمونيستي نظام د ړنګيدو يو لامل هم دادی چې ځايي اوسيدونکي له نړيوال فرهنګ څخه لېرې ساتل شوي دي. له دويمې نړيوالې جګړې وروسته يې تقريبآ په ټولو ځايونو کې خپل نفوذ ته لار پرانستله.

دا فرهنګ نه غواړي هغه فکرونه، مفکورې اونهصتونه تر خپلې ولکې لاندې راولي چې نړيوال رنګ يې خپل کړی وي. دا فرهنګ د ايډيالوژيکي، ديني، جنسي، مذهبي، او قومي مسائلو په اساس تبعيض ته ځای نه ورکوي. همدا ډول هغه مشران (حکمروايان) چې په خپلواکه توګه د خلکو له خوا نه وي ټاکل شوي هم نه مني.

که څه هم دغه فرهنګ د نورو په خوښه په نړۍ مسلط شوی خو ډيره شونتيا شته چې په پای کې د اساسي ارزښتونو د له مينځه وړلو لامل شي.

انفرادي حکومتونه او موسسې د ډيموکراسۍ د پرمختګ په لار کې کټ مټ د سياسي ډيموکراسېو په شان د هغې په لرغونتيا ټينګار کوي.

په هره کچه چې په ټولنه کې پخواني نظريات او فکرونه زړېږي او ارزښت يې کمېږي په هماغه کچه د ډېموکراسۍ د پرمختګ سبب ګرځي، خو يو ټکي ته مو بايد پام وي چې په چټکۍ سره د سياسي ډېموکراسۍ د اشکالو لېږدونه چې عيني او ذهني شرايط ورته برابر نه وي ګټه نلري. او د فرد سربيره نورو ډلو ته هم د ازادۍ ترلاسه کولو په لاره کې خنډ ګرځي.

پخوا د هر ډول سياسي ډېموکراسۍ بنسټيز شرط خپلواکۍ په ځانګړې توګه مدني خپلواکۍ وه، ددې با وجود ټول اجتماعي ترونونه د سياسي ازادۍ پر څرنګوالي اعتراف کوي او وايي چې دا يو خپلسری حق نه دی چې هرڅوک يې په روښنايۍ کې هر څه وکړي او د مسئوليت احساس ورسره نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څرنګه چې انسان په يوه ټولنه کې خپلــه خپلســرې(مطلق) ازادۍ لــه لاسه ورکوي هماغه ډول ټولنه چې هم د خپلسرې ازادۍ څخــه د ګټــې اخيستلو په لار کې قيود وضع کوي.

که چيرې يوه ټولنه انسان ته حقوق او امتيازات ورکړي. نو ددې حقوقــو او امتيازاتو څخه د ګټې اخيســتنې لپــاره حــدود هــم ټــاکي. البتــه د خپلواکۍ څخه ګټه اخيستنه او قيود د هرهيواد د څرنګوالي پــر اســاس وضع او پلي کيږي.

په هېڅ يو هېواد کې حکومت خپلو افــرادو تــه د سياســي، مــذهبي او عقلاني جوړښتونو له پلوه  تر اندازې زياتــه ازادۍ نشــي ورکــولای او د نورو له خوا د باندنيو ازاديو پلي کول هم د ګټې پرځای ډيرې ناخوالې او خطرونه پېښوي.

**بيلګه:** په افغانستان اوايران کې د سياسي ډيموکراسۍ راولاړيــدل ددې سبب شوه چې لومړی په هيواد کې ديکتاتوري او په دويم ځل افراطــي نظامونه رامينځته شي چې پدې سره د خپلواکۍ له تش نوم پرته نور څه په ځای پاتې نه شول.

هغه سرمايه دار هېوادونه چې د لېبرال ډېموکراسۍ څخه ځان بــرخمن بولي پخپله هم پدې نه دي توانيدلي ترڅو پخپلو هيوادونو کې د لېبرال ډېموکراسۍ د پلي کولو زمينه  برابره کړي.

په هغو هيوادونو کې چې وګــړي يــې تــر اوســه د قبيلــوي اوکليــوالي ډيموکراسېو د شرايطو په چوکاټ کې ژوند تيروي که چيرې د مختلفــو خپلواکيو د تامينولو لپاره سواد خپل لــومړنی شــرط ونــه ګرځــوي نــو بيسوادۍ، ظلم، کړاونه او ستم سره به لاس او ګريوان وي.

ايا د سياسي ازاديو ورکړه د ټولنې د نماينده ګانو د ازادو حقوقو له ډلــې څخه په قبيلوي ټولنه کې د سرمايه دارې ټولنې د عنصر د تصبيق پرته بله څه کيدای شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لیبرال ډیموکراسۍ څخه برخمن مدعي هیوادونه چې تـر اوسـه هـم پکې یوه کوچنۍ سرمایه داره طبقه پر یوې لـویې خـو بیـوزلې طبقـې حکومت کړی د غیر سرمایه دارانو جبري تحمیـل شـوي شـرایط ددې اجازه نه ورکوي چې خپل استازی د له خیـل مینځـه وټـاکي د واقعـي ډیموکراسۍ خلاف دوی د سرمایه دارې طبقې یا هم د هغوی نـوکران د ځان لپاره استازې ټاکي.

ایا اخلاقاً ددې حق لري چې د دریمې نـړۍ هیوادونـو تـه ووایـي چـې حکومتونه د ټولنې د اکثریتو استازیتوب نه کوي؟

د لیبرال دیموکراسۍ د خپرولو لپاره نړیواله ټولنه په ځـانګړې توګـه د امریکا متحده ایالات هڅه کوي او وایي چې یو سیاسي ټـولنیز نظـام او ملي او نړیوالې هوکړې ته اړتیا ده.

که چیرې د ډیموکراسۍ غوښتونکو پـه اعمـالو کـې دینـي، مـذهبي، طبقاتي، قشري، نژادي، قومي او فرهنګي تعصبات وي نو په نورو به یـې څنګه پلي کول شوني وي؟

ایا دا به انصاف او عدالت وي هر هغه انسان چې پخپله یو کار نه کوي او پر نورو یې د عملي کولو امرکوي؟

ایا دا به انصاف وي چې ډیموکراسۍ غوښتونکي هېوادونه یو عمل د خپل دوست هیواد یا خپلو پلویان په واسطه ترسره کړي او همدا عمـل بیـا د خپلو مخالفینو یا په غیر ډیموکراسي هیوادونه کې تر سره کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریيم څپرکی

## ټاکنې او ډیموکراسي

که چیرې ټاکنې د هغو وګړو په غوښتنه چې په کورنیو جګړو کې ښکېل او یا د دولت د قدرت د ترلاسه کولو هیله لري ترسره او د نړېوالې ټولنې د استازو له خوا پلي شي دا یوازینۍ لار ده چې کورنیو جګړو ته پای او د بهرنیو هېوادونو لاسوهنو مخنیوي سبب او هیواد له جګړو څخه د سولې په لور لاړ شي. افغانان د افغانستان ولس له وژنې، بیوزلۍ او افغانستان له ویجاړونې څخه ژغوري چې پدې لار کې ډیرې ستونزې هم وجود ولري.

دغه لار د ټاکنو د پروسې کارکونکي او ملاتړي مجبوروي چې لـه همـدا اوسه دا ستونزې تشخیص او د حل لپاره یې لارې چارې وګوري. او ددې لارو موندلو لپاره باید له ګټـورو او قناعـت بخشـه وسـایلو څخـه کـار واخیستل شي.

له دې وروسته په افغانستان کې د سوسیالیزم حاکم نظام لـه مینځـه ولاړ او په هیواد کې د اسلامي نظام په راتلو سره د ژونـد زمینـه برابـره شوه.

د کابل رژیم په له مینځه وړلو کې لـه ښـکیلو افـرادو، ډلـو او جهـادي مشرانو څخه په پاکستان کې د ناستې غوښتنه وشوه، چې د هېواد پـه پلازمېنه کې د سیاسي قدرت له تسلیمېدو وړاندې یوځای سره کېني او د یو اسلامي، ځواکمن او متحد حکومـت د رامینځتـه کولـو لپـاره لازم تدابیر او چمتووالی ونیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جهادي رهبرانو دغه اسامبله د پاکستان له خوا په اسلام اباد کې ونیول شوه، خو له بده مرغه څنګه چې مخکې ویل شوي وو هسې ونه شول.
له یوې خوا د دوی د خپلمنځي اختلاف او بې اتفاقۍ رامینځته کېدل له بلې خوا په همدې بیړني تصمیم د پاکستان حکومت فشار او لـه دریـم اړخه دوی له خپلو تیرو موقفونو څخه نه تیرېدل وو، چې ونـه توانیـدل څو د یو داسې هوکړه لیک پر بنسټ چې د هیواد، خلکو او اسلام په ګټه وي سلا شي دغه راز پدې هوکړه لیک کې له یوې خوا هم د کلیـدي او مهمو مسائلواو معضلو په اړه څه نه وه ذکر شوی او یو کوچنی تدبیر یـې هم نه درلود. یوازې پکې د یوې جزیي ځـان غوښـتونکې، د هیـواد پـه وړاندې دښمنانه، په اسلامي حکومت کې یوازې د دوی حاکمیـت او پـه لنډو برخو کې د دوو حکومتونو تاسیس ته پکې ډیره پاملرنه شوې وه.
پدې هوکړه لیک کې د عمـومي ټـاکنو مسـئلې او د قـانوني حکومـت رامینځته کولو ته په مجمل او عادي توګه یوه لنډه اشاره شوې وه.
د همدې اقداماتو په پایله کې نه یوازې ځـان غوښـتونکي فکرونـه او د اسلام او افغانستان دښمنانو هر اړخیزې لاسوهنې وې چې د درې کلونو لپاره د هیواد په پلازمېنه کې داسې ناوړه کړنې ترسـره کـړې چـې نـه یوازې له ویجاړې څخه خالي نه وې بلکه تر ډیرې مـودې بـه موجـوده افغانان او د هغوی راتلونکی نسل په اسلامي نړۍ کې د لسیزو لپـاره لـه خپلو ملي او نړیوالو کړنو او سرټیټۍ څخـه رنـځ وړي، د تېـرو پېښـو د تکرار د مخنیوي لپاره د ټولو وګړو په خوښـه یـو حکومـت تاسـیس،د راتلونکو ټـاکنو د سـتونزو پـه اړه د ټـاکنو ډولونـه، د غربـي لیبـرال

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډيموکراسۍ او په قبيلوي افغانستان کې له هغې څخه په ګټه اخيستنه کې ستونزې او د نتيجه بخشو ټاکنو لنډ مطالب وړاندې کيږي.
په موسساتو، دولتي او غيردولتي واحدونو کې لوړ مقام ته د رسېدو لپاره ټولټاکنې د رايې اچونې په شکل ترسره کيږي.
خو په عمومي ټاکنو کې وګړي هغو مهمو سياسي څېرو ته خپله رايه ورکوي چې د جمهوري رياست، لومړۍ وزيري، په ولسي جرګه او ولايتي شورا د څوکيو ترلاسه کولو لپاره نوماند وي. البته په هغه هيوادونو کې چې فدرالي سياسي نظام لرونکي وي ټاکنې په ستونزمن ډول ترسره کيږي دغه راز د ټاکنو کلمه په عادلانه توګه د حقدارو وګړو له خوا د فعالو او ربښتينو اشخاصو ټاکنه او په يو خپلواک هيواد کې د همدې ټاکنې لپاره واجد شرايط اشخاصوته ويل کيږي.
د ټاکلو، رايې اچونې او ټاکل کيدو حق په هرځای کې د تعليمي کچې، د ټولنيزپرمختګ لاملونه او د سياسي شعور د پوخوالی سره سم په ټولو هيوادونو کې مختلف دي. د پاچاهانو په تيرو کارونو کې چې ځان يې د زور يا هم په ميراثي ډول قدرت ته رساوو، د خپلو خوښو سره سم يې د مهمو دولتي چارو د ترسره کولو لپاره اشخاص انتخابول، تردې چې بشپړو پرمختللو شاهي مشروطه نظامونو کې هم دغه کار ترسره کيږي، خو دوی د ټاکنو دغه پروسه په نمايشي توګه ترسره کوله.
ټاکنو د ډيرو مستعمراتو له خپلواکۍ، دويمې نړيوالې جګړې وروسته د نوي حکومتونو په رامنځته کيدو سره سم عصري او سياسي ځانګړتيا وموندله چې نن مونږ پکې ژوند کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا توپیر نه کوي چې یو هیواد د اجتماعي پرمختګ په کومه مرحلــه او د څه ډول سیاسي جوړښت لرونکی دی خو بیا هم ددې هیواد له چارواکو څخه د ټاکنو د ترسره کولو هیله کېږي، طبعآ په پرمختللو او صنعتي پــه ځانګړې توګه د لیبرال سرمایه داري هیوادونه د ټولنو د هر ډول شرایطو سره سم دا کار ترسره او ورپورې تړلی دی.

ځیني هیوادونه حتا په دیکتاتوري نظام لرونکوهیوادونو کــې د وګــړو د ذهنونو د دوکه کولو لپاره د خپل نظام د واقعي څرنګوالي په موخــه پــه نمایشي ډول له ټاکنو څخه ګټه پورته کوي. ګڼ شــمیر هیوادونــه چــې دهغوی ټولنیز ژوند شرایط حد اقل چې له لومړنیــو څخــه تــر منځنیــو پیړیو پورې وده کړې وي بیا دا کار پکې ترسره کیږي.

د بشر د حقونو او د ډیموکراسۍ دوکه کوونکو کلمو تر اغېز لاندې یــاهم د ملل متحد یا غربي هېوادونو په  فشار مجبور یږي چــې داســې عمــل ترسره کړي چې له حقیقي ژوند څخه په لیرې واټن او د ژوند لــه لاســه ورکولو شونتیا پکې وي.

لکه څرنګه چې تراوسه په دغه ډول هېوادونو کې عادلانــه او ربښــتینې ټاکنې نه دي ترسره شوې وروسته پاتې ډله تل تقلبي او خائنانه پایلې را ښکاره کوي، نه یې مني او قناعت هم پرې نه کوي.

پر همدې بنسټ د ټاکنود ګټوونکو کارونه له بیلابیلو مخالفتونو، ګډوډۍ، سردردۍ او د شخصي دښمنیو په لوړېدو سره د ټوپک پــه را اخیســتو تمامېږي. کولای شو د خلکو وژنه، لوټونه او د کابل ښار ویجاړونه د شورا د غړو د وړتیاوو پایله وګڼو؛ په دغې نوې لارې اوطریقې وړاندې هــوکړه شوې وه چې په دې وسیله هم بریالي نه شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

انسان نه شي کولای ددې وړاندوینه وکړي چې په راتلونکو ټاکنو کې به له لاندې ټاکل شویو لارو څخه ( لویه جرګه، په غربي ډول د ټاکنو ترسره کول، د شورا غړي) کومه یوه له اسلامي لارې څخه ګټه پورته کړي.
که چیرې په ټاکنو کې د پورتنیو دریو لارو څخه له یوې څخه هم ګټه اخیستل کیږي نو ددې لپاره لومړنی او بنسټیز شرط دادی چې په ټول هیواد کې به امنیت ټینګوي، په هیواد کې له بې شمېره وسلوالو ډلو څخه د غیر قانوني وسلې راټولوي، ټول د یو مرکزي حکومت تابع کول، او په هیواد کې د نږدې او لېرې بهرنیو هېوادونو شومې غوښتنې او ځان غوښتونکو موخو ترلاسه کولو د مخنیوي لپاره کولای شو له پورتنیو دریو لارو څخه په بریالیتوب سره ګټه پورته کړو،
د امنیت د نشتون ترڅنګ نور کورني او بهرني واقیعتونه د ټاکل شویو لارو په وسیله د ګټورو کړنو د ترسره کولو لپاره خنډ ګرځي.
لویه جرګه د سوسپالېستي رژیم له منځته راتلو وړاندې تاریخي او دودیزو شرایطوته په کتو سره د هېواد په مهمو ملي او لویو مسائلو کې د تصمیم نیولو یوه لویه او ارزښتناکه وسیله شمېرل کېده، ځکه د تصمیم نیولو دغه لار د کوچنیو قومي او قبیلوي جرګو لوی جوړښت وو. چې زمونږ د لرغوني هېواد د قبیلوي ډیموکراسۍ مهمه ځانګړتیا بلل کېږي.
خو په هیواد کې د یوې نیمې لسیزې په تېربدو او د هېواد په دودیز نظم کې په زیاتوالي او کموالي لوړوالي او ټیټوالي  سره ددې لارې دودیز قدرت هم ګډوډ شو، څرنګه چې په تېرو وختونو کې ددغې تصمیم نیونې لار د قومونو، قبایلو، خوانینو، دیني علماو، روحانیونو، ملایانو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوچنیو سرمایه دارو ډلې وې. خو نن خپلسري اکثریت د لویې جرګې د قدرت پایه په بهر کې پرمخ او یاهم د وسلوالو چې یا به د جهادي تنظیمونو پورې تړلي او یا هم بې طرفه وي د قدرت تر شعاع لاندې چې له دې پرته یې بل کار له وسې پوره نه وو دي.

او نن په هېواد کې د قدرت او واک ترلاسه کولو لپاره یوازینۍ سرچینه وسله ده، خو وسلوال پرته له یو څو محدودو اشخاصو د مهمو تصمیمونو تجربه نلري او نه هم ددې جوګه دي چې دغه مسولیت نورو ته ورکړي.

دوی په دې پلمه چې ګواکې نورو د کمونستانو په وړاندې جهاد نه دی کړی، وسله یې نه ده پورته کړې، د اسلامي ارزښتونو ویاړ یې ځانته نه دی ببنلی، د بهرنیانو له خوا یې ملاتړ نه دی شوی، د سرو لښکرو په ویستلو کې یې برخه نه ده اخیستې نو ددې وړ یې نه بولي چې د هېواد د برخلیک په ټاکلو کې برخه واخلي، هغوی پخواني تعلیم یافته دولتي ماموران چې غربي هیوادونو ته یې پناه وړې یا هم په کابل کې پاتې وو او په جهاد کې یې برخه نه وي اخیستې او هر هغه څوک د کمونستانو په نوم پېژندل شوي وو په هیڅ ډول دولتي کارونو او تصامیمو کې برخه نه ورکول کیږي، او دا وایي چې هغه پخواني ماموران او په بیلابیلو برخو کې کارپوهان او یا یې اولادونه چې په بهرنیو هیوادونو کې یې زده کړې کړې وي د هیواد په بیارغونه کې هیڅ ډول برخه نه شي اخیستلای.

نه تعلیم یافته خلک او نه هم هغه څوک چې ددوی په تنظیمونو پورې نه دي تړلي نشي کولای د هیواد په رغونه او جوړولو کې پراخه او په مسئولانه ډول برخه واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تردې چې هغه کارپوهان چې په بهرنيو هيوادونو کې يې زده کړې کــړي د هغوی مرستې هم ددوی لپاره هيڅ ډول پرمختګ نشي ورکولای او نه هم دوی ورته اړتيا لري.

څنګه چې د کمونستي دورې د واکمنۍ پرمهــال د روســي کارپوهــانو د همکارۍ نا اغيزي د پورتنۍ ادعا يو ثبوتي سند کيدلای شي چې کورنيو کارپوهانو له کمونستي دولت څخه له همکــارۍ لاس واخيســت او يــوه لسيزه يې په بر کې ونيوله ترڅو چې د قدرت پر ســر د حــزب غــړي د ځانګړو کارونو په ترسره کولولپاره روسانو له لوړو لګښتونو سره قلمــي بلدتيا پيداکړي.

ژاړم! چې لويه جرګه هم رامنځته شوه او تېرې نږدې تجربې ته په کتــو سره ډېر امکان لري چې بايلونکې ډله تقلبي او جعلي پايلې را څرګندې او ددوی لپاره د منلو وړ نه وي، قناعت پرې ونکړي او امکان لــري چــې پدې سره ټوپک ته لاس کړي او يو د بل په وړاندې جګړه پيل کړي.

ټاکنې په عمومي ډول د غربي ليبرال ډيموکراسۍ يوه پديده (ښــکارېد) دی، په همدې اساس زمونږ په وروسته پاتې هېواد کې د تعليمي کچې، د اجتماعي پرمختګ ټيټوالی، د سياسي شعور لوړوالی، د اساسي او حزبي قانون نشتوالی، د پېژندپاڼو د ويشــلو او د افغانــانو د هويــت تثبيــت او نفوس شمېرنې ستونزه،

د مرکزي نظامي ځواک، د انتخاباتي چارو د ســاتونوکو ، او د هغــو ډلــو نشتون چې ټولو ته د منلووړ وي د بې شمېره وسلوالو ډلو شتون، او تــر ټولو د سياسي روزنې نشتوالی چې په ټاکنو کې ترې ګتــه پورتــه کــول

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړین او مهم دی او که چېرې دا روزنه نه وي نو راتلونکې ټاکنې بـه هــم وګړو ته د منلو وړ نه وي.

د ټاکنیزې روزنې په پر بنسټ نوماندان پــوهېږي چــې کــوم حقونــه او مکلفیتونه لري، څه ډول مبارزه وکړي او خلــک پــه کــوم ډول د خپلــو کړنلارو تابع وګرځوي.

دغه راز رایه ورکوونکي پوهېږي چې څه ډول د نومانــدانو شخصــیت او موقفونه وپېژنې ارزونه یې وکړي او په ګټه یې خپله رایه وکاروي.

سیاسي ګوندونه او د هغوی غړي پوهیږي چې د ټاکنو پایلې د خلکــو د عمومي ارادو څرګنــدونکي دی نــو پــه همــدې اســاس د خلکــو ارادې تسلیموي او د ټاکنو په پایلو قناعت کوي.

د ټاکنو اصول او اخلاق حکم کوي چې بایلونکې نوماندان باید د بریــالیو په بریا خوښ او ورته مبارکي ووایي او دا ژمنه ورسره وکړي چې د هېواد په ټولو چارو کې به په سالمه توګه بشپړه ونډه اخلي.

دا د ټاکنو له دود سره سم ګټونکې حزبي ډله باید د بایلونکې حزبي ډلې غړي له دندو څخه ګوښه نه کړي او پرځای یې خپل غړي ونه ټاکیو څکه په ټوله کې غربي هېوادونه د ټاکنو له بریا وروسته یوازې پــه کابینــه او ځینو کلیدي او مهمو ادارو په کارکوونکو کې بــدلون راولــي او نــور یــې پخپل حال پاتې کېږي.

خو! زمونږ په هېواد کې د ټاکنو د اصولو او شرایطو په نه موجودیت سره دا امکان لري چې د انتخاباتي حوزې رایه ورکوونکو لسټ نــه وي جــوړ شوی او د هغوی لپاره ځانګړي کارتونه هم نه وي ویشل شوي، ممکنه د چې د ډاکټر نجیب الله د حکومت د دورې په څېر چې عین اشخاص پــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځو ځايونو کې رايه ورکوله او يا هم په يوه ګوښه انتخاباتي حوزې چې له له مرکزي حکومت څخه به ليرې وه يا به هم وسلوالو ډلــو د خپلــو ګټــو لپاره د رايې اچوونې صندقونه ډکول او په ټاکنو کې رايــه شــمېرونکي د وسلې په زور ګواښي چې د ټاکنو پايلې ددوی په ګټه اعلان او يــا هــم د رايې اچوونې صندقونه له منځه يوسي.

پر همدې بنسټ دا شونې ده چې ټاکنې ددې پرځای چې تيرو ستونزو د حل لارې چارې پيداکړي نورې ستونزې زيږوي، پدې مانا چې د تنظيمي مخالفتونو پراساس به نور مخالفتونو هم زيات شي، د شخصي دښــمنيو رامنځته کېږي او په پايله کې به د سيمه ايــزو جګــړو ســربېره کورنيــو جګړو ته هم لمن وهي.

هغه دښمنۍ چې يو د بل وژلو او لوټولو په پايله کې چې پــه يــوه نيمــه لسيزه کې د جهادي مشرانو او قومندانانو له خوا زېږول شــوي پــه لنــډ وخت او د قانوني ټاکنو په ترسره کولو سره نشي له منځه تــلای او د يــو اصولي او واقعي ټاکنو ترسره کولو ته زمينه برابرول ناشونې ده.

ټول هغه شرطونه چې بايد د ټاکنو د ترسره کولو وړاندې تامين شي يــو يې د هيواد سياسي نظام دی چې زما په عقيده ددې پرمخ هوکړې تــه د رسېدو يوه اسانه او ساده امر نه دی؛ که څه هم ډېر احتمال لري چــې د هېواد راتلونکې ټاکنې د سياسي شکل په برخه کــې مختلــف جهــادي تنظيمونه د هغوی د پلويانو له خوا تر فشار لاندې راځي چــې د همــاغو هيوادونو د ډيموکراسۍ ډول پخپل هيواد  کې هم پلي کړي.

پدې مانا چې ددې ډېر امکانات شته چې ايران، پاکستان،عربي امارات او نور غربي هيوادونه په هيواد کې پخپلو لاسپوڅو فشار راوړي څــو ددوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خير ډيموکراسی په خپل هيواد کې پلي او د رامنځته کولو لپاره يې له خپلو هيوادوالو سره کلکه مبارزه وکړي.

البته په هغه صورت کې هم دنن په خبر موخې ته رسيدل کاملاً ناشونې ده او يا به هم ډير وخت په بر کې ونيسي. که چيرې په ځانگړي ډول هم سره هوکړه وکړي او سره سلا شي نو په اساسي او احزابو قانونوکې، د ټاکنو مقررات او له هغې څخه د گټې اخيستنې لپاره په ټاکلي وخت ورسره د خلکو بلدتيا نشي کيدای.

په بيلابيلو تنظيمونو باندې د جهادي ډلو په ويشل کيدو سره ددې شونتيا نشته چې د هيواد د راتلونکي لپاره يو حزبي( يو حزب لرونکی) چې د اسلام دين يې هم غوښتونکی دی رامنځته او دوی پرې هوکړې ته ورسيږي او کار ترې واخلي، ځکه له يوې خوا ټول تنظيمونه دا رضايت نلري چې په يو گوند کې سره راټول شي که چيرې احياناً هم رضايت ولري او هوکړې ته سره ورسيږي نو د مذهب د اختلاف پر بنسټ سوني او شيعه په يو گوند کې سره نه يوځای کيږي چې په همدې ی سره د دوه گوندونو د رامنځته کيدو شونيتا پيدا کيږي.

د اسلامي ملي خوځښت گوند په هيڅ ډول مذهبي گوندونو له خوا نشي يوځای کيدای اونه هم پخپله د دوی خوښه ده چې سره يوځای شي چې پدې سره به يو بل گوند زيات او شمير به يی دريو ته لوړ شي.

د سياست په ډگر کې د نوې رامنځته شوې ډله (طالبان) دي چې د نورو بې وسلې کول او د هغوی د قدرت له منځه وړل غواړي او په هيڅ ډول له نورو سره د يوځای کيدو هوډ نلري پوتنيو خرگندونو ته په کتو سره په

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیواد کې څلور ګوندونه مبارزې ته چمتو دي، نو دا وخت اړینه ده چې په هیواد کې ډیموکراتیک پارلماني نظام رامنځته شي.
ددې نظام په رامنځته کولو سره دا لازمیږي چې د امریکې متحده ایالاتو، فرانسې او انګلستان هیوادونو په څېر نظام انتخاب او ومنل شي.
د امریکا په متحده ایالاتو کې صدارت وجود نلري او اجرائي قوه یې مستقیماً د رئیس جمهور په لاس کې ده او جمهوري ریاست ته نوماندان د یو ګوند له لوري ټاکل کیږي دغه د جمهور رئیس مرستیال هم پخپله د جمهور رئیس له خوا ټاکل کیږي، او دواړه په خپلمنځي توافق سره خپله ټاکنیزه مبارزه پر مخ بیايي او رایه اچوونه د دواړه نوماندانو ترمنځ په یوه صندوق کې کیږي، د امریکا په متحده ایالاتو کې پدې مسئاله ډېر بحث شوی او ویل شوي چې یو ګوند نوماند ته دې په جلا جلا توګه په ټاکنیزو حوزو کې رایه ورکړل شي که په یوه صندوق او یوځای؟
ځیني د جلا او ځیني هم په یوځایي ډول ددې خبرې پلویان دي، په متحده ایالاتو کې ولسمشر د عامه رایو په بنسټ ټاکل کیږي.
په کانګرس کې د ګوندي پلویانو د نشتون په صورت کې او یاهم له شخصي نفوذ پرته به په کانګرس کې د منلو وړ نه وي چې پدې سره به یې کارونه د خپلې دورې په پای له بشپړې ناکامۍ سره مخ شي ځکه په هغه هیواد کې یوازې دوه ګوندونه په ټاکنو کې ګډون کوي.
د ټاکنو کارونه اوترسره کول ډېرې ستونزې نلري، که چیرې ټاکنې د دریمې نړۍ په هیوادونو کې ترسره شي د بېلګې په توګه په افغانستان کې: دا چې په هیواد کې لوی او کوچني ګوندونه شتون لري نو د دوی په موجودیت سره کیدای شي د ټاکنو پروسه اوږدوي او پایلې یې ټولو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

غیرقانوي او نه منونکې وي څنګه چې د ډاکټر نجیب د واکمنۍ پرمهال ځینو ټاکنیزو حوزو تقریباً یو کال په بر کې ونیو طبعاً په اوسنیو شرایطو کې بې سرنوشتي، او خپلسریتوب پراختیا موندلی نو کیدای شي د ټاکنو پایلې له یوه کال څخه هم تېرې وکړي.

ځینې ګوندي ډلې چې په ټاکنو کې یې د ټاکل کیدو لـه حقـه محـروم شوي نو شونې ده چې پخپلو سیموکې د ټاکنو د ترسره کیدو مخنیوی او یا هم ګډوډي رامنځته کړي.

د ببلګې په توګه: دا چې په موجوده اسلامي حکومت کې د اسلامي ملي خوځښت ګوند هیڅ ډول ونډه نه ده ورکړل شوې نو کیدای شــي ځینــو حکومتي ادارو ته پخپله سیمه کې د کار کولو اجازه ورنکړي تردې چــې امکان لري چې د جهادي تنظیمونو څخه د غچ اخیستنې په موخه نــور دوکه او د فدرالي نظام د رامنځته کولو تېنګار وکړي.

که د فرانسې فدرالي نظام په پام کې ونیول شي نــو پــه هغــه کــې یــو ځواکمن او فعاله جمهور رئیس او لومړی وزیر وجود لري خو دېته په کتو سره چې فرانسویان پوه له د پوهې له پلوه پرمختللي دي نو د حکومــت په ویشلو کې دواړه لومړی وزیر او جمهور رئیس سره سلا دي او د خپــل قدرت د له منځه وړلو عواملو په وړاندې په ګډه سره مبارزه او له منځــه یې وړي.

زمونږ د هیواد شرایط هم په همدې لــور روان دی څنګــه چــې جمهــور رئیس او لومړی وزیر دا غواړي چې له بشپړ قدرت څخــه بــرخمن وي، د سیدراعظم او جمهور رئیس ترمنځ د قدرت ترلاســه کولــو مبــارزه پــه هیواد کې د سیاسي وضعې د ټېنګیدو د مخنیوي لامل ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ دوه ځلې په پاکستان کې ددې مبارزې پایلې پخپلو سترګو ولیدلې چې جمهور ررئیس دوه ځلی انتخابي حکومت له منځه یوړ او که چیرې ورته لار په افغانستان کې پلي شي نو د دواړو اړخونو د پلویانو ترمنځ به وسلواله جګړه رامنځته شي.

که د انګلستان سیستم په پام کې ونیسو نو په هغه کې پاچا یا جمهور رئیس یوازې د اداري او ملي یووالي سمبول په توګه وجود لري.

د ټولو اداري چارو صلاحیت یوازې د انتخابي سیدراعظم په واک وي.

په افغانستان کې خودخواهي خپل اوج ته رسیدلې او بې اعتباري تر خپلې کچې زیاته را ټیټه شوېده او لاهم د کموالي په لور درومي. که چیرې جمهور رئیس په هیواد کې د ملي یووالي سمبول په توګه وي نو لومړی وزیر یې په کلي ډول بې صلاحیته او بې ارزښته ګڼي او تر څنګ یې ځان په اصطلاح هر کاره ګڼي چې پدې سره د جمهور رئیس شخصیت ته پکې زیان رسېږي او په پایله کې دا هم شوني ده چې د پلویانو ترمنځ یې دوه اړخیزه جګړه رامنځته شي او کیدای شي جګړه ځانته وسلواله بڼه ورکړي.

په هر صورت، چې هر ډول ټاکنې ترسره شي او هغه موضوع چې د دریمې نړۍ په هیوادونو کې انتخابي حکومتونه تهدیدوي هماغه د ائتلافي حکومت جوړښت دی ځکه له یوې خوا پدې هیوادونو کې ملي فکرونه وجود نلري او له بلې خوا د داسې ګوند نشتوالی چې په یوازیتوب سره اکثریت رایه ترلاسه کړي.

البته د اکثریت رایې د تر لاسه کول په موخه په پارلمان کې څو ګوندونه سره یوځای کیږي او د ائتلافي حکومت د رامنځته کولو لپاره هڅې کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ائتلافي حکومتونو کې ستر او واکمن ګوندونه د خلکو له خدمت څخه لاس اخلي او د شخصي ګټو په خوندي کولو بوخت او تر څنګ ورسره په واک شریک خواوو ته یې هم پام وي چې طبعآ دغه کار د ملت او هیــواد په وړاندې د بې ګټو کړنو لامــل ګرځــي څرنګــه چــې مــونږ تراوســه د مجاهدینو د ائتلافي حکومت ناخوالې زغمو او پرې اخته یو، که چېرې یو بې ګټې او ناوړه عمل په ټولنه کې بیاځلي تکرار شي نو پایلــه کــې یــې سربیره پردې چې ویجاړ هیواد به جوړ نشي بلکه انسان وژنې لوټونې او نورو ناوړه کارونو ته لار هواروي، که چیرې ټولې پــورتنی ســتونزې تــر راتلونکو ټاکنو پورې په پام ونه نیول شي او حل لارې چارې ونه مونــدل شي نو باید د داسې ټاکنو د ترسره کولو اقدام ونشي.

ځکه دا ډول ټاکنې چې د وګړو د غولونې او په سترګو کې یې د خــاورې شیندنې په موخه ترسره کیږي ګټې نه لري څښتن تعــالی دې زمــونږ هیوادوال د دې ډول ټاکنو له ناوړه او بدو عواقبو څخه وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم څپرکی

## ټاکنې او ډیموکراسۍ

د ډیموکراتیکو هیوادونو له ځانګړتیاوو څخه ددې تر څنګ چــې مهمــو دولتي چارواکو ته د ټاکلو او نوماند کیدلو حق ورکول کیږي نود قــدرت په ګدۍ ناست ګوند سره د اصولي مخالفت حــق هــم ورکــول کیــږي د حکومت یا مخالف ګوند سره د مخالفت ښودنه د یوې سیاسي ډله بندۍ په چوکاټ کې د یو ګوند له خوا ترسره کیږي.

مونږ هغې ډلې ته اپوزیسون ویلی شو چــې دومــره ځــواکمن وي چــې سیاستونو ته تردې چــې یــو حکومــت تــه بــدلون ورکــړي، پــه نــورو ډیموکراتیکو هیوادونو کې اپوزیسون قانوني او رســمي موقــف لــري، او شتون سربیره پر دې چې په ټاکنو کې د بریالۍ ډلې کارونو پــه وړانــدې خنډ جوړ شي ترڅنګ ددې ډلې په کلک مخالفت لاس هم پورې کوي.

اپوزیسون د حاکمې ګوندي ډلې کړنو ته متوجه وي له چوکاټ او اصــولو څخه د هغوی پر کوچنۍ تیروتنه هم نیوکه کوي او په وړاندې یې سخت خو عادلانه مخالفت هم څرګندوي؛ اپوزیسون په پارلمان کې ځان کې د وګړو استازی بولي او د حاکمې ګونــدي پــه کورنیــو او بهرنیــو برنــامو، پالیسیواو اصولي تګلارې په وړاندې اقدامات کوي خو دا مو باید په یــاد وي چې اپوزیسون هیڅکله هم د بې ځایه  مخالفت یا هم شخصي ګټو او موخو ترلاسه کولو لپاره نه رامنځته کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلکه د اپوزیسون په مخالفتونو کې تل د ملي ګټو ملاتړ نغښتی وي نو له همدې ځایه ده چې حاکمه ګوندي ډله هیڅکله هم له متقـابلو اقـداماتو سره نه یوځای کیږي طبعآ که چیرې د اپوزیسون تګلاره اصولي وي نو د حکومت له خوا یې په وړاندې هیڅ ډول اقدامات نه کیږي.

که چیرې اپوزیسون وغواړي د حاکمې ډلې یا حکومت چارې ترلاســه او واک ته ورسیږي نو دوه لارې باید عملي کړي.

۱ــــ د دوو ټاکنو ترمنځ په شته واټن د حکــومتي کړنــو او پلانونــو پــه وړاندې اصولي او قانوني مبارزې ترسره کول.

۲ــــ په ټاکنو کې به حاکمې ډلې په وړاندې یــو ســیال ګونــد پــه خیــر سیاسي مبارزه کوي او تل هڅه وکړي خو رایه ورکوونکي پدې قانع کړي چې کولای شي په هیواد کې یو ځواکمن او پرمختللی حکومت رامنځتــه کړي او د حاکم حکومت د بدلولو وړتیا لري.

او دوی هدف ته د رسیدو لپاره له بې ځآیه خبــرو او ژمنــو پرتــه خپلــه تګلاره اوبرنامې وګړو ته وړاندې کوي، که چیرې په هیواد کــې سیاســي ګوندونو شمیره ټیټه او هر څومره چې سیاسي ګوندونه ځواکمن وي پــه هماغه کچه اپوزیسون هم ورسره ځواکمن وي او که برعکس شمیر یــې لوړ وي او کموزري وي نو اپوزیسون به هم ورسره کمزوری او بې ارزښته وي.

پورتنی دویم شکل عمومآ پــه وروســته پــاتې یــا د دریمــې نــړۍ پــه هیوادونوکې لیدل کیږي چې پدې اساس دواړه هــم ائتلافــي حکومــت اوهم اپوزیسون کمزوري وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پد ې هيوادونو کې د پوهنيزې کچې د ټيټوالي او د دواړو سياسي شــعور ډېرى پر احساساتو پورې تړلي دي چې وروسته بيا په پارلمان کــې هــم لاس او ګريوان وي چې تر ټول ښه بېلګه يې تېــر کــال د پاکســتان پــه پارلمان جګړه ده او مونږ ټول يې هم شاهدان يو، او يا يې په پايله د زيان اړوونکي لاريونونو او وسلوالې جګړې لامل ګرځي.

او ددې حالت د دوام د مخنيوي لپاره بايــد يــو ګونــد شــديد قيــودات رامنځته کړي او ناوړه ګټه اخيستونکو ته دا حق نه ورکول کيږي چــې د خپل سياسي تجارت لپاره کوچني ګوندونه جوړ کړي چې وروســته نــور وګړي هم په ريشخند او ټوکو په ژبه ورته ووايي: چــې فلانــي د خپلــې کورنۍ له غړو څخه يو پراخ او لوى ګوند جوړ کړى دى.

د تعجب خبر خو دلته داده چې نوموړي ګوندونه بيا د مساوي حقونــو او يام قوي ګوندونو دعوې هم کوي او ځانته د يو ځوکمن ګوند په ســترګه ګوري.

بيابيا دا تکرار شوي چې يو ګوند په پارلمان کې د يوې څوکۍ په لرلو لــه بل لوري سره ائتلاف کوي هغو لور يې کابينې ته چمتو کوي البته د هغــه په بدل کې يو ډېر مهم وزارت هم په لاس راوړي.

په يو ګوند، ديکتاتوري او يا هم نظامي رژيمونو کې چې اپوزيســون تــه پکې په ښکاره توګه زمينه مساعده نه، نو اپوزيسون خپل مخالفتونه په پټه سره کوي څنګه چې په سوسياليستي يا هم شــاهي رژيمونــو کــې چاته د مخالفت اجازه نه ورکول کيږي نو په همدې سره مخالفين خپــل مخالفتونه په بيلابيلو لارو ترسره کوي چې تر ټولو ښه بيلګه د شب نامو

(c) ketabton.com: The Digital Library

غورځول دی دغه راز د پخواني شوروي اتحاد د کمونستي رژيم پرمهال مخالفتونه په شخصي محفلونو کې د طنز په شکل ترسره کيدل.

## اسلام او ډيموکراسی:

د اسلام سپيڅلي دين له نن څخه يو نيم زر کاله وړاندې د بشر لپاره د ژوند يوه تګلاره ډالۍ کړې چې نه يوازې په لنډ وخت کې يې د عربو متعصب او ناپوه قوم له پراخ پرمختګ سره مخ کړ بلکې پدې وتوانېد چې د د طبيعي علومو په برخه کې تردې کچې وده وکړي څو د لمريز نظام د سيارو په سينه کې ځانته د استوګنې زمينه برابره کړي خو د اخلاق پالنې، د مساوي حقونو او د اجتماعي عدالت په برخه کې يې زړه له خلاصه هېڅ ډول کوتلي ګامونه نه دي پورته کړي پداسې حال کې چې په اسلامي تګلاره کې د ټولو د تامين امر شوی دی دغه راز اسلامي تګلارې تراوسه پورې خپله برتري ساتلې او لا به يې هم وساتي.
د تګلاره د انساني بشر د کمزورو او خود خواهانه مغزو او غوښتنو نه ده جوړه کړې دا تګلاره د کايناتو د امپراطورۍ د تګلارې يوه برخه ده او دا تګلاره د کايناتو د خالق او شهنشاه د بې پايلې قدرت په روښنايۍ کې د جوړه او د بني ادم د لمسيانو د لارښونې او د تل لپاره د پلي کولو لپاره نازل شوې ده.
د انسان پيدايښت له دوو برخو جسم او اروا څخه جوړ شوی دی دغه تګلاره د انسان د ژوند دواړه برخې مادي او معنوي اړخونه په بر کې نيسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له هغه ځایه چې د انسان جسم او اروا ډیالکټیکي اړیکه لري نو کـولای چې ورپورې ټولې اړوندې چاروې پخلې همغـږې او یوځـایي ډول سـره ترسره کړي، د ژوند د مادي او معنوي اړخونو تفکیک، د هغوی بیلوالی او دوو متضادو ډلو په واک کـې یـې ورکـول د ددې اړیکـې پـه پراختیـا تمامېږي چې په پایله کې به یې ترمنځ موازنه رامنځته نه شي څنګه چې په غربي عیسوي ټولنو کې دا حقیقت پخپلو سترګو وینو او شاهدان یې یو.

په هغو ټولنو کې د ژوند معنوي چارې کلیسا ( د عیسویانو عبادتځای) او مادي چارې حکومت ته سپارل کیږي څکه حکومت د ژوند مادي چـارو ته ډیره پاملرنه کوي او د خلکو مادي ژوند ته پـه غیـرې تصـوري ډول ښکلا او پرمختګ وربښي.

بر عکس د ژوند معنوي چارو ته دومره پاملرنه نه کـوي د امریکایـان او اروپایانو د ژوند اروا ورځ په ورځ د مړاوي کیدو په لور درومي او ژوند یې د معنویات د کمښت له کبله له بحران سره مخ دی.

ډیموکراسۍ او د بشر حقونه هغه نسخې دي چـې پـه هـیڅ ډول نشـي کولای په پلي کولو سره یې شدیدې معنـوي نـاروغۍ درملنـه کـړي او تراوسه هم پخپل شدید حالت کې پاتې دي.

البته اوس یوازې اسلامي تګلاره پلي کول، د تعصب او دښمنۍ له منځـه وړل کولای شي څو د غربیانو سربیره د ټول بشر دا سترناروغۍ درملنـه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د فرد او اسلامي ټولنې ځانګړتیا:

اسلام د یوې سالمې ټولنې د جوړولو لپاره ځانګړې تګلاره لري، اسلامي ټولنه د همکارۍ، برابرۍ، خپلواکۍ او عــدالت پــر بنســټ ټینګــه ده، د هرځای اوسیدونکې،

هرڅوک چې د هرځای وي، په هرقوم او قبیلې پورې چې تړلی وي، پــه هر ژبه چې خبرې کوي، له هر نژاده چې وي ټول پکې یو ډول او مساوي حقونه لري.

د اسلام په سپیڅلي دین کې هېڅ ډول برترۍ، بې عــدالتۍ، ظلــم زوراو تبعیض ته ځای نه دی ورکړل شوی.

د اسلامي تیورۍ سره سم له کومه ځایه چې انسان د یو خالق مخلوق او د یو مور او پلار اولاده او د یو فطرت لرونکی دی ولو که په بیلابیلــو ډلــو ویشل شوي دي خو ټول په ملي یووالي کې سره یوځای دي.

د اسلام دین له مسلمانانو څخه غــواړي چـــې د اجتمــاعي همکــارۍ او برابرۍ له لارې پخپل منځ کې فطري وحدت ټینګ او پرمختللی کړي.

په لنډه توګه مسلمانان باید دا اصل په پام کې ونیسي او د نسل او نـــژاد یووالی په عقیده، دین، ایمان، عبادت، د ملت په یووالي باندې بدل کړي یو بل ته له خبرو تیر شي نو پدې صورت کې کولای شـــي چـــې د ځــان غوښتنې او لوړوالي له انګیزې څخــه تیــر شـــي او د ورولــۍ او ټــولنیز پرمختګ زمینه برابره کړي چې پدې ســره بــه یــوه واقعــي اســلامي او انساني ټولنه رامنځته شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اسلامي ټګلاره کې د انسان امتیاز او ارزښت پرهیزګاري ده او پرهیزګاري په الله تعالی باندې ایمان لرل احکام یې پرځای کول او د بنده ګانو خدمت کول ده.
څښتن تعالی فرمایلي دي: له تاسو ټوله څخه د څښتن تعالی په وړاندې نږدې هغه څوک دی چې پرهېزګاره وي.
په اسلامي پرهیزګارۍ سره د امتیاز، برترۍ، نفاق اچوونه، ظلم او ستم، د انساني حیثیت تر پښولاندې کول، هر ډول فساد، فرد په فرد، ډله په ډلې، قوم په قوم هیواد پر هیوادتیرې، تعصب او تبعیض له منځه ځي.
واقعي اسلامي او انساني ټولنه د ټولو وګړو لپاره د نیکمرغۍ او خوښۍ رامنځته کول زیمواره ده.
لوی څښتن تعالی په مسلمانانو کې نفاق اچوونه یو شرکي عمل ګني او خپل پیغمبر ته یې له داسې انسانانو څخه د لیریوالي امر کړی دی، ای پیغمبره له هغو خلکو څخه لیرې اوسه او په کنار کې مه دریږه چې اسلامي یووالی یې پرې ایښی وي او په بیلابیلو ډلو یې ځان ویشلی وي او دداسې انسانانو کار ماته پریږده او زه به ددې عمل د ترسره څخه خبر کړم.
د اسلام ستر پیغمبر په دې اړه فرمایلي دي:
څوک چې چاته دتعصب بلنه ورکوي، یو د بل په خبره وژني او د همدې کار د ترسره کولو پرمهال مړ شي نو هغه شخص زما له امت څخه نه دی، نو په یوه استواره ټولنه کې د اسلامي احکامو پربنسټ سوله اوامنیت حاکمیت لري د خلکو حیثت او ناموس پکې خوندي وي، د انسانیت او

(c) ketabton.com: The Digital Library

برابرۍ په فضا کې ژوند کوي او پدا ډول ټولنه کې مخالفینو ته هم پــدې دنیا هر ډول سزاګانې ورکول کیدای شي او هم په هغې دنیا!

څښتن تعالی فرمایلي دي: څوک چې یو انسان په ناحقه او غیر قــانوني ډول ووژني نو داسې مانا لري چې ګواکې ټوله نړۍ یې وژلي وي.

ستر پیغمبر حضرت محمد(ص) پدې حدیث کې فرمایلي: کلــه چــې دوه مسلمانان یو د بل په وړاندې خپلې تورې راوباسي او یو بل ووژنــي نــو د قاتل او مقتول دواړو ځای دوزخ دی.

دغه راز وايي: په تحقیق سره دڅښتن تعالی په وړاندې د ټولې نړۍ د له منځه تلو په پرتله د یو انسان وژل ډیر ارزښت لري. پدې خبره د اســلام سپیڅلي دین دوه رکنه ( امربالمعروف او نهی عن المنکر، ) او د اســلامي ټولنې دوه مهم لارښودنه نغښتې دي.

ای انسانانو په نیکو کارونو کې یو د بل سره مرسته وکــړئ او پــه نــاوړه کارونو کې د یو د بل له مرستې څخه ځان وساتئ.

څښتن تعالی په اسلامي ټولنه کې ځان غوښتنې او خپلسرۍ له څښــتن تعالی او د هغه اله استازي سره د جګړبولي او دا کار یې منع کړی دی.

هغه څوک چې له خپل خالق او پیغمبر سره جګړه کوي او د فساد لپــاره خپل وخت لګوي د لاندې سزاګانې باید ورکړل شي.

۱ـــ ووژل شي؛

۲ـــ په دار وځړول شي؛

۳ـــ لاس او پښې یې پرې شي؛

۴ـــ له خپلې خاورې څخه وویستل شي؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نورو نظامونو کې کله چې افراد مخالفت وکړي نو فــرد تــه د تصــويب شوي قانون سره سم سزا ورکوي پداسې حال کې چې پــه اســلام کــې قانون سربيره د څښتن تعالی د عذاب مستحق هم ګرځي.
د اسلام په سپيڅلي دين کې آوامر او حق البعد دواړه نغښتي دي چې د نيک عمل په ترسره کولو او له بدو څخه د ځان ژغورنې امر کوي.
د اسلام په سپيڅلي دين کې يو اصل د ټولنيز عدالت تامين، د ظلــم لــه منځه وړل، تيری او د نورو د حق تر پښو لاندې کولو ځان ساتنه ده.
له کومه ځايه چې کاينات په عدالت او همغږۍ پيداشوي بشري ټولنه هم دغه راز د کايناتو يوه برخه د عدالت او همغږۍ تامين بولي.
څښتن تعالی پې اړه فرمايي: انصاف وکړئ ځکه انصاف د پرهيزګارۍ يــو مهم اصل او عمل دی.
د اسلام سپيڅلی دين د ټولنې د طبعي نظم د خونديتوب په موخــه پــه ټولنه کې ظلم کول او ظلم زغمل دواړه منع کړيدي، او پدې اړه څښـــتن تعالی فرمايلي دي:
پر نورو تيری مکوئ ځکه تيری کــوونکي خلــک د څښـــتن تعــالی نــه خوښيږي.
د اسلام ستر پيغمبران د ظلم د زغملو په اړه فرمايلي: هرڅــوک چــې د خپل مال، ځان او ناموس د ساتنې لپاره ووژل نو شهيد دی.
هغه څوک چې ظلم زغمي نو په اړه يې څښتن تعالی فرمايي: هغه څوک چې مړ شي نو په قبر کې ترې پرښتې پوښتنه کوي چې ژوند دې په څه حالت کې وو نو دی به وايي مظلوم وم بيا به تــرې وپوښــتي چــې ايــا د څښتن تعالی ځمکه پراخه نه وه چې مهاجرت دې کــړای وای، نــو د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډول خلکو ځای چې ظلم زغمي، په وړاندې يې پاڅون او مهــاجرت نــه کوي دوزخ دی چې ویرونکی او هیبتناکه ځای دی، خدای (ج) نه یوازې د ظلم کول او زغمل منع کړي بلکه د نورو د خلاصون امر یې هم کړیدی. ولې هغه نارینه، ښځینه او کوچنیان چې له ظلم خلاص نه شول او وایــي خدایه په یمن باندې له ابدي رحمت سره سره مونږ له دې کلــي وباســه ځکه چې ددې ځای د اوسېدونکو کسب وژنه او ستم دی.

په سوسیالیستي او سرمایه داري نظامونو کې هیڅ ډول واقعي عدالت نه شي ټینګېدای ځکه چې پدې ډول نظامونو کې فرد د فرد، طبقه د طبقې او هیواد د هیواد تر استثمار لاندې وي، استثمار د اقتصــادي عــدالت د مخنیوي ستر لامل ګڼل کیږي. اسلامي نظام نه یــوازې پــه تیــوري ډول بلکه په عمل کې یې هم هر ډول استثمار له منځــه وړی څرنګــه چــې د راشدینو خلفاوو د واکمنۍ پرمهال په ځانګړې توګه د حضرت عمــر رض د واکمنۍ دوره د پورتنۍ خبرې ستر ثبوت ښودلای شو.

**په اسلام کې د دوه اړخیزې څارنې اصل**

په اسلامي ټولنه کې څښتن تعالی امربالمعروف نهې عــن المنکــر ســره سره هر مسلمان ته دنده سپارلې څو یو د بل د اعمالو څارنــه او ســاتنه وکړي؛ البته دغه څارنه یوازې د یو فرد، ټولنې او یوې طبقې په ګټــه نــه بلکې د ټولو د خیر لپاره تر سره کیږي.

دا ډول څارنه د امر او مامور، ښوونکي او زده کوونکي، لوړپوړي او ټیــټ پوړي، حاکم او محکوم له خوا په دوه اړخیز ډول ترسره کیږي، خــو یــو اړخ هم باید د عدالت او حق له دایرې څخه ونه وځي، څرنګه چې ابوبکر صدیق رض د خلافت تر لاسه کولو وروسته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای! خلکو پوه شئ او خبر واوسئ تر هغه چې زه د څښتن تعالی او دهغه د پیغمبر د احکامو اطاعت کوم نو زما پیروي پر تاسو واجب ده. که چیرې مې له دې احکامو سرغړونه وکړه نو بیا مې د اطاعت پرځای له خلافت څخه لیرې کړئ.

د هغه په عقیده که چیرې حاکم ګناه وکړي او له سمې لارې ووځي نو د هغه فرمانبرداري لازمه نه ده، او که چیرې نورو ته د ګناه کولو امر وکړي نو دا ډول امر یې د منلو وړ نه دی. هغه څوک چې د خلکو په وړاندې مسئول او واجب الحترام نه وي نو په هیڅ ډول د مومنانو واقعي خلیفه نشي جوړیدای یوازې هغه څوک چې اعمال یې اسلامي، عادل او د ټولو خیر غوښتونکی وي.

د اسلامي ټولنې لارښودونکي د اسلامي دساتیرو پر بنسټ د خدای او د خدای د مخلوق په وړاندې ځان مسئول ګڼي، خلکو ته سمه لار ښایي او د هغوی شرعي غوښتنې پوره کوي، ټولنه له هر ډول فساد څخه ژغوري او پخپل هم ښکاره او د نورو د اعمالو څرګندونکی هم وي، ځان پالونکی نه بلکې ځان ماتونکی وي، د ټولنو د رنځونو رغوونکی، پخپله نیکه خبره ټینګ ولاړ وي او د اسلام سپیڅلي دین لاروی وي.

دوه اړخیزه څارنه پدې مانا چې اولیاء د دولتي اتباعو د چارو څارونکي او برعکس وي. په اسلامي ټولنه کې د چارو څارونکي نشي کولای چې پخپله خوښه او د ځانه په ګټه فرمانونه صادر کړي او اتباع د اولیاوو ټول ګوډ او ړانده امرونه په بشپړ ډول نشي منلای.

حضرت عمر رض ددې لپاره چې خلک د خپلو اعمالو د څارنې لپاره وهڅوي له خپل ټاکل کیدو یې وروسته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ای! خلکو که زه د خدای له لارې ووځم له ماسره به څه ډول چلند وکړئ؟**

**په مجلس يو تن حبشي غلام ځواب ورکړ او ورته يې وويل:**

**چې ای! زويه قسم مې دې په خدای وي چې بيا به دې زه پدې خپلو توره لارې ته راولم. حضرت عمر رض وويل: که چېرې د ښځو له مهر له سلو درهمو زيات نو په ازاد ډول دې غوښتنه وشي او زيات مال دې بيت المال ته وسپاري.**

**يوه ښځه چې په دې غونډه کې حاضره دغه ايت که کومې ښځې ته په مهر کې زيات مال ورکړئ نو بيرته يې ترې مه اخلئ د ثبوت په توګه وړاندې کړ او وې ويل چې دا د قرانکريم له متن څخه بې خبري او د ښځو پر حق تيری دی هغه نشي کولای له ځانه قانون جوړکړي او له ما څخه خدای راکړی حق واخلي.**

**کله چې عمر رض د ښځې استدلال واوريد او دې پيښې ته ځير شو وروسته يې وويل چې ای! خدايه ما وبښه.**

**ای! عمره ټول خلک ستا ملګري او سلاکاران دي او هغه ښځه په رښتيا او له عمر څخه خطا شوېده.**

**دغه پېښه د رښتني اسلامي خلافت يو نمونه ده ځکه چې خليفه ددې پرځای چې پخپله اشتباه کې دليل راوړي د ټولو وګړو په وړاندې يې خپل قصور ومانه او له څښتن تعالی څخه يې د بښنې غوښتنه وکړه.**

**دغه په اسلامي نظام کې د څارنې او ساتنې ښه بيلګه ده. نه يوازې دا چې حاکم اومسئوله دستګاه خلک خپلو اعمالو ته متوجه کړي بلکې**

(c) ketabton.com: The Digital Library

عام خلک هم د خپلو واکمنو اعمال او اقوال تر ځارنې لاندې نیسي څو هغوی هم د نیکو کارونو له دایرې څخه بهر نه شي.

دغه ساتنه یوازې د روزنې، دیني پرمختګ څخه خبرتیا او سیاسي شعور پر بنسټ ترسره کیږي. د اسلام له نظره د هر امر او مامور باید یو بل ته پام وي حتی باید له خپلو کوچنیو تخطیو هم سترګې پټې نه کړي ځکه پدې سره به د دوی تخطي لویه او په پایله کې به د نظام په ړنګېدو تمام شي.

هغه وګړي چې پدې نړۍ کې له فاسدو او بدکارو رهبرانو پیروي کوي نو کله چې په هغې دنیا کې په عذاب اخته شي بیا به وایي: چې ای! خدایه مونږ له فاسدو او بد کارو رهبرانو پیروي کړې او د ګمراهی په لور تللي یو، خدایه د هغوی عذاب دوه چنده او پخپل سخت غضب او لعنت یې اخته کړئ.

رسول ص فرمایلي: څوک چې د نورو د ژوند او دنیا لپاره خپله دنیا او ژوند خرابوي هغه کمعقل دی او له هغه څخه کمعقل هغه څوک دی چې د نورو د دنیا لپاره خپل اخرت تباه کوي.

د خلکو د ځارنې د نشتون په صورت کې به اسلامي رهبران په ظالمانو بدل شي، او لاندې کړنې به ترې ترسره شي؛

۱ ــ ظالمان چې پخپله فاسد وي نو نور هم د فساد په لور راکاږي او د فساد لمن پراخوي.

۲ــ نیک عمله خلک به ظلم پیل کړي او د ذلت په لور به راوکاږل شي، بیابه ناوړه او مفسدو خلکوته پرمختګ ورکړي چې پدې سره به د غوړه مالی بازار ګرم شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ــــ ځان به لوړ او پیاوړی ګڼي او د نورو پروا به نه کوي چې پدې ســره به نورو ګناهونو ته هم مخه کړي.
۴ ــــ ځان د نورو په پرتله هوښيار ګڼي چې دا د دوی د ګمراهۍ او فساد لامل ګرځي.
۵ ــــ خلک په بیلابیلو ډلو ویشي ترڅو کمزوري شــي اود دوی د نــاوړه اعمالو په وړاندې د دریدو توان ونه لري او په پایله کې د ځــان، کــورنۍ، خپلوان او ملاتړو لپاره د ژوند اسانتیاوې رامنځته کړي.
۶ــــ د زده کړې ترلاسه کولــو، د اســتعدادونو ودې، سیاســي شــعور او اقتصادي پرمختګ ته په بل ډول ګوري څو دوی اړمند وي او اطاعت یې وکړي.
۷ــــ دښمنۍ او وینې تویونې ته لار هواروي څو استعدادونه یې په منفي لارو پرمختګ وکړي او ددوی قدرت ټینګ او دوام پیداکړي.
۸ ــــ په ټولنه کې د فساد دود رامنځته کوي او خلک پکې ډوبــوي څــو دین او دنیا یې تباه شي.
۹ــــ نه یوازې ځان سوله غوښتونکی ښايي بلکه خپل نــور پلویــان هــم نیک عمله بولي.
۱۰ ــــ ځان د دین واکدار پېژني خلــک د واقعــي ســولې پــه وړانــدې د مخالفت لپاره پاخون ته تحریکوي.
۱۱ــــ هغوی خپل اعمال د هغو علماوو په ملګرتیا سره چې دین یــې پــه دنیا خرڅ کړی وي ځان پاک ثابتوي او د وګړو په وړاندې پرښتې ښيي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په اسلام کې سياسي حقونه:

د اسلام سپيڅلی دين له بل هر دين څخه د امنيت او عدالت د تامين په موخه حکومت او سياست موجوديت ته ډيره اړتيا ده.

د اسلام دښمنان دا دين يوازې د اخلاقي او شخصي مکلفيتونو چې په عبادتځايو او کورونو کې ترسره جوړښت بولي.

د اسلام څخه د حکومت اوسياست د جلاوالي څخه د دښمنانو موخه په بې خبره مسلمانانو کې دا ذهنيت رامنځته کول چې ګواکې سياسي، اقتصادي او ټولنيز مسايل يوازې دنيوي مسايل دي او له اسلام څخه سره کومه اړيکه نلري.

او د اسلام يوازينی موخه ديني مسايل دي ( د اخرت ورځې د عذاب څخه د خلاصون) لپاره او بس!

د اسلام د دښمنانو تبليغ په اسلامي علماوحتی په په شيخ عبدلرازق هم اغيز کړيده

لکه څنګه چې د نوموړی پخپل يواثر کې چې ډېرو امريکايانو ورڅخه ګټه پورته وايي: چې د اسلام په چوکاټ کې سياست ته ځای نه دی ورکړل شوی او سياسي چارو ته پکې پاملرنه يو غير اسلامي کړنه ده پداسې حال کې چې پيغمبر ص فرمايلي: څوک چې د مسلمانانو چارو يا برخليک ته پاملرنه نه کوي نو له مسلمانانو څخه نه دی.

د اسلام سپيڅلی دين د ژوندانه ستر او پراخ نظام دی چې په هغه کې ټول مسايل د دنيوي او اخروي نيکمرغيو پورې تړلي دي لکه د حکومتي اداري پورې د تړلی امر پلي کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوازې د سياست اړوند مسايل د ټولنې له وزن سره متناسب له مختلفــو لارو د ازمايلو او امکاناتو په لرلو سره ورته پاملرنه کيږي.
يو ټکی بايد په پام کې ونيسو چې مستشرقينو په اسلام کې د سياســي پرمختګ لپاره د مسلمانانو سياسي ته مراجعه کړېده، البته د راشــدينو خلفاوو وروسته دوی له دين څخه ورو ورو ليرې کيدل او د خلافت نظام يې په ميراثي شاهي نظام بدل کړ، يوازې خلفاوو چلند يې يو بل څه او د اسلام د واقعي سياسي پرمختګ څخه پرته بل څه وګڼل طبعآ په شاهانو باندې د بدل شويو خلفاو د مطالعې کردار د اسلام لــه لــورې يــو منفــي انځور وړاندې کوي.
په اسلام کې دغه ډول د سياست غيراصولي مطالعه دی اس مرګوليــه( د يو عالم نوم) په خپل اثر کې د (محمد پينيزم) ت عنوان لاندې دی وايې:
چې هېڅ مسلمان د خپل وخت پرمهال د رهبر په وړاندې کوم سياســي حق نلري او هبرې يې د هيڅ يو وګــړي پــه وړانــدې مســئوليت نلــري نوموړی د خپلې وينا د تائيد لپاره وايي: که چيرې کــوم رهبــر د خپلــو قدرت په وسيله کوم عام وګړی پرته له قانوني اسنادو او شواهدو ووژني نو ددې کار په ترسره کولو سره بيا هم د د خلکو په وړاندې مســئول نــه دی.
دغه ډول ناسمې پريکړې د سياسي تاريخ تش په نوم لــه خليفــه ګــانو څخه اخيستل شوېدي پداسې حال کې چې د اسلام د سياســي واقعــي تګلارې لپاره بايد له قرانکريم، سنتو، احــاديثو، راشــدينو خلفــاوو او د صحابو له اعمالو څخه ګټه پورته کړای شي. ځکه پدې ګټــې اخيســتنې سره کولای شو کولای شو د اسلام اصلي سياســي لارې پيــداکړو البتــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان ښودوونکو خلیفه ګانو او رهبرانو د اساساتو څخه وتلـې او مخالفـه لار نیولې وي او د اسلام اصلي انځور یې د خپلو غیر اسلامي اعمـالو تـر شا پټ کړی وي له اسلام څخه یو منفي انځور ښودلی دی او دا نو د هغو ګناه ده. څرنګه چې علامه اقبال لارهوري ویلي:

د اسلام سپیڅلی دین له هر ډول عیبونو او نیمګړتیاوو څخـه پـاک دی
خو چې د مسلمانانو په مسلماني کې نیمګړتیا او عیب نه وي ( شعر).

دا یو روښانه حقیقت دی چې که په نړۍ کې د اسلام سیاسي نظریات نه وای خپاره شوي نو معاصره دوره کې به کوم سیاسي اساسي اصولو وجود نه درلود.

اسلامي اصول د غربیانو په سیاسي رسانس او نظریاتو ډیره اغیز واچوله البته دا حقیقت هغه وخت ښکاریږي چـې انسـان د سیاسـي اصـولو د بنسټ او اساس اړوند پلټنې ترسره کړي څو سیاسي معاصر او اسـلامي اصول سره پرتله کړي.

اسلام اسلامي امت ته د دندو او واجباتو سـربیره سیاسـي حقونـه هـم وربښلي دي، اسلام په روښانه ډول د حقونو او وجایبو ترمنځ برابروالـی ساتلی دی څو یو پر بل مسلط نشي دغه امر په یو نـه یـو ډول فسـاد او ګډوډۍ ته لمن وهي چې په پایله کې د نظام په ړنګیدو تماميږي.

تر ټولو ستر حق چې څښتن تعالی د حقونو ترمنځ بنده ګانو ته وربښلی هغه په رهبرانو د اتباعو حق دی او د خدای ج ددې لپاره دا حـق بنـده ګانو ته ورکړی څو په پلي کولو سره یې دعام وکـړو او مشـرانو تـرمنځ همکارۍ دوام ومومي او دین پرې څواکمن او وده وکړي څکه عام وګـړي یا اتباع تر هغې نشي ښه کیدای څو چې یې حکمران حقونـه ورنکـړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې پدې صورت به کې به عدالت پخپل قوت تـامين شـي او د اسـلامي نظريات به عملي بڼه خپله کړي او په پايله کې به ټولې چارې سمې شـي او دولت به ځواکمن او ټينګښت وومي دښمنان به پدې ونه توانيږي څو حکومت ته زيان ورسوي ولې که چيرې اتباع خپل واجبات او دندې ونه پيژني، يې ترسره نه کړي او يا يې حکمران هغوی له خپلو حقونو څخـه بې برخې کړي نو اختلافات به رامنځته شي نو ناخوالې به مسلطې شي او د دين اصول به د حکمران د لاس ګـوډۍ جـوړ شـي چـې ورسـره بـه حکومت او خلک دواړه فاسد شي او حرص او بې اتفاقۍ به اختيار کـړي خلک به د ناوړه کارونو ترسره کولو په وړاندې بې توپيره شي. پرهيزګاره او سپيڅلي خلک به له دندو ليرې او استهزا شي لـه مفسـدينو او وران کارو څخه به ملاتړ وشي او وروسته به ديني احکام تردې چـې څښـتن تعالی به له هيره وويستل شي.

که د عامو وګړو د حقونو او واجباتو ترمنځ برابروالی مشخص او روښـانه شي او عملي بڼه ورکړل شي دغه امر به د اسلام دولت او لانـدې څلـور عناصرو د ځواکمنتيا لامل وګرځی.

۱ـــ د حقونو او عدالت قدرت؛

۲ ـــ په عملي بڼه د ديني اصولو ترسره کول؛

۳ ـــ د عدالت غلبه او نور؛

۴ ـــ د سنتو پيروي؛

خو که د موازنه له منځه لاړه شي نو د څلورو لاندنيو عناصرو د کمزورتيا لامل ګرځي.

۱ ـــ د اختلافاتو څرګنديدل؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ ـــ د استبداد او ناخوالو پیداکیدل؛
۳ ـــ د اختلافاتو او دیني موضوعاتو پرمخ د استدلال پیداکیدل؛
۴ ـــ د سنتو په پام کې نه نیول؛
د پورتنیو کمزور عناصرو وجود په اسلامي دولت درې خیزه او پنځه لاملونه رامنځته کوي درې خیزونه دادي:
۱ ـــ پخپله خوښه د چارو ترسره کول؛
۲ ـــ د دین د اصولو نه پلي کول؛
۳ ـــ په ټولنه کې د فساد زیاتوالی؛

او پینځه لاملونه یې په لاندې ډول دي ـــ
۱ ـــ د خلکو له خپلو حقونو د بې برخې کولو ویرې له منځه تلل؛
۲ ـــ د غیرقانوني کړنو په ترسره کولو د ویرې ورکیدل؛
۳ ـــ د پرهیزګارو او وړ خلکو سپکاوی؛
۴ ـــ د جنایت کارانو او خائنانو درناوی؛
د اسلام په سپیڅلي دین د څښتن تعالی په کتاب او د پیغمبر د احادیثو په رڼا کې د وګړو په په سیاسي حقونو بشپړه روښنایي اچول شوې او لاندې څلور څانګې پکې شامل دي.
۱ ـــ د هغو حقونو څخه د خلکو خبرتیا چې څښتن تعالی ورته ورکړي دي او په اسلامي ټولنه کې له خپلو حقونو څخه د هیڅ یوغړي محرومیت ددې لپاره چې اسلامي حکومت غه دروند بار پورته کړای شي نو له خلکو سره باید په خلاص نیت او پاک لمنی سره چلند وکړي او له نفساني غوښتنو لکه فریب، تقلب، تعصب او بډې اخیستنې څخه ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library

**وساتي اسلامي حکومت باید خپل ټول اعمال ددې قراني امر پر بنسټ برابر کړي:**

**ای! مومنانو د عدالت ساتونکي او په څښتن تعالی شهادت ورکوونکي واوسئ که ستاسو په وړاندې، ستاسو د کورنۍ په وړاندې او یا د خپلوانو په وړاندې وي که بیوزله وي او که سرمایه دار ځکه چې د پرتلیني له مخې دواړه سره نږدې دي.**

**له هوا او هوس څخه پیروي وکړي چې د سمې لارې څخه ونه وځئ که له سمې لارې څخه ووځئ یا بې لارې شئ او هغه څه چې تاسو یې ترسره کوئ څښتن تعالی پرې خبر وي.**

**نو په اسلامي سیاسي په لاره کې فریب، تقلب او تعصب وجود نلري؛ حکمران او اتباع سره برابر دي او یو پر بل لوړوالی نه لري او دواړه په نیک کارونو کې یو دبل همکار او له بدو کارونو یو بل وژغوري.**

**هر هغه څه چې یو انسان پر بل لوړوي هغه یوازې تقوا کیدلای شي. نسب، جنس، قومیت، ژبه، پانګه، منقوله او غیر منقوله پانګه، قدرت او وسایل هېڅکله نشي کولای یو پر بل لوړ کړي.**

**دندو په ترسره کولو کې له ملت سره د حکمرانانو مرسته او وفاداري د اسلامي سیاسي لارې یو مهم اصل او موضوع ده.**

**اسلام سره وفاداری د حکمران او اتباعو ترمنځ د سیاسي اړیکو له ټینګولو پرته له بلې لارې امکان نه لري.**

**ځکه نني سیاست د منافقت یو بل نوم دی چې په بشپړه له اسلام په ټکر کې دی او هرهغه څه چې ددوی په زیان وي پټوي؛ او یوازې هغه څه ښکاره کوي، چې ددوی په ګټه وي په ښکاره یو څه وایي او په پټه بله؛**

(c) ketabton.com: The Digital Library

پداسې حال کې چې اسلام له ملت وفادارۍ د هغوی په حقونــو کــې تــر ټولو وړاندې حق بللی دی.
له وفادارۍ وروسته هر هغه څه چې په اســلام کــې مهــم ګڼـل کيــږي صداقت او رښتينولی ده او څښتن تعالی پدې اړه فرمايلي:
(( د خدای ج لعنت دې پر هغه چا وي چې درواغ وايي؛))
د حکومت يا اتباعو له دداسې کارونو ترسره کول چې صداقت پکــې نــه وي او ټول په درواغو ولاړو وي نو دا ډول کارونه دوی د اسلامي عقيــدې له دايرې څخه باسي.
پر دې بنسټ که چيرې پرهيزګاره او سپيڅلي خلک د حکومت په راس کې په دندو وګمارل شي نو د اسلامي نظام موخې هم بشــپړ ېدای شــي، ځکه چې بيا به په حکومت کې فساد، غلا، رشوت او بې عدالتي له منځه ځي. او دغه ډول حکومت يوازې د اسلامي سياسي تګلارې پــر بنســټ رامنځته کيدای شي.
د دولت دغه ډول پرمختګ کې که چيرې له اسلامي صــادقانه سياســي تګلارې څخه سمه ګټه پورته شي نو ورسره د انسان عادلانه تګلاره پــه عمل کې ښکاره کيږي.
څرنګه چې د اسلام ثاني خليفه سياسي تګلاره په داسې ډول د عدالت په څوکۍ څرګندوي چې د لازيات ډاډ لپاره خپل زوی قربانوي.
دا هغه څه ده چې د بشريت په تاريخ کې يــوه ورتــه نمونــه بلکــې دې تعميل ته نږدې عدالت نشي ښودلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲ ــــ د ملت د غوښتنو بشپړول:** دا موضوع دا مانا ښــايي چــې د هيــواد اقتصاد بايد په امانتدارۍ سره وساتل شي د قانوني اقتصاد حقونه ورکړل شي، د همدې حقونو پر بنسټ بايد له ملت سره راکړه ورکړه وشي.
ځکه اسلامي ټولنه په هره برخه کې کوم اقتصادي عمــل ترســره کــوي ځانګړی حق لري، څنګه چې سوداګر، کسبګر، صنعتکاران او بزګران هر يو خپل ځانګړی حق لري.
په عين وخت کې اړمند او بيوزله خلک هم ځــانګړی اقتصــادي حقونــه لري.
دا د حکومت دنده ده چې له يوې خوا ملي عوايد راټول کړي او لــه بلــې خوا د خلکو اقتصادي حقونه ورکړي.
وګړي حق لري څو د اقتصادي حقونو څخه په ګټې اخيستنې سره خپل نور حقونه ترلاسه کړي او د دولت يا حکومت دنده ده چې ددې حقونو د ترلاسه کولو لپاره له خلکو سره مرسته وکړي.
خو د دولتي عوايدو په هکله چې ملي عوايد ورته هم ويل کيــږي دنــده لري چې په سم ډول يې وساتي ترڅو د اړتيا پر وخت يې د دولت د عامه پروژو په چارو کې ولګوي او د مفسد او غلو خلکو له خوا لوټ نه شي.
۳ ــــ د اسلامي حکومت دنده ده چې په اړونــد مســلکي برخــو کــې د کارپوهانو د روزنې ترڅنګ هغوی ته د سياسي روزنې زمينه هم برابــره کړي.
ترهغه چې خلک د خپلو شخصي، اولياوو او نورو د دندو او حقونو لپــاره يوه پوله او حد ونه ټاکي نو هيڅکله به هم په اجتماعي عدالت کې برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وانخیستلای شي او او اولیا به د خلکو له دې بې خبرې څخه د هیواد چارې د خپلو ګټو لپاره ترسره کړي.
۴ـــ د ټولنې افراد د زده کړې ترڅنګ روزنې ته هم ضروري اړتیا لري، ترهغه چې چې په دوی کې اخلاقي فضایل رامنځته نه شي نو دوی به د مثبتو شخصیتونه خاوندن هم نشي.
ولې چې د طبعي او اجتماعي علوم زده کړه د یو مثبت شخصیت په نه موجودیت کې نه شي کولای څو ټولنه د ښه والي په لور بوځي.
څنګه چې په اسلامي اخلاقي معاییرو او ملي ارزښتونو د افغاني زده کوونکو زده کړه نه ورکول کیده نو په پایله کې هم ټول زده کوونکي د تبیلغاتي ډلو د ښکار قرباني شول او په همدې ناوړه عمل سره یې زمونږ هیوادپه داسې صعب لاعلاج(نه جوړیدونکی ناروغی) ناروغی اخته کړ چې تراوسه هم پرې اخته یو
له بده مرغه زمونږ په هیواد د زده کړې کچه دومره راټیټه شوې چې که چېرې په بیړه سره ورته پاملرنه ونه شي نو په راتلونکي کې به په یو بیسواده او بې علمه هیواد بدل شي نو په یویشتمه پیړۍ کې به د ګډون شمولیت پیدا نه کړي، د دغه ډول ناوړه عمل مسولیت د هغه اشخاصو په غاړه دی چې په نا سم ډول یې د هیواد د واکمنی چارې پخپلو بې کفایته لاسونو کې واخیستلې، او پوه او باصلاحیته خلک یې د سیاست له دایرې څخه وویستل.
نو په هیواد کې د داسې حالاتو په موجودیت سره د راتلونکي رهبر دنده داده چې چې په لومړي سر کې د یوې اسلامي او انساني ټولنې لپاره تګلاره جوړه او پلي کړي. البته که چیرې د وروستیو رژیمونو په خیر د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مادياتو او کفري فکرونو په رڼا کې له غربي هيوادونو څخه په تقليد يو مادي ټولنې ته خپل پام واړوي

د سوسياليستي او سرمايه داري نظامو په برخليک سره به دوی د اسلامي او انساني ارزښتون له نشتوالي سره به مخامخ شي.

يقينناً يوازې په اسلامي انساني او اخلاقي بنسټونو سره چې د فساد، سياسي، اقتصادي او اجتماعي ګډوډۍ له منځه وړونکي دي مثبته ټولنه رامنځته او د پای ټکی ورته ايښولای شو.

## اسلام او ټاکنې:

څښتن تعالی فرمايلي دي: خدای(ج) له تاسو مومنانو سره ژمنه کوي چې تاسو به د ځمکې پر سر خپل وکيلان وټاکي څرنګه يې چې مخکنې خلک ددې صفاتو وړ ګرځولي وو، لکه څرنګه چې ټول مسلمانانو پدې نه توانيږي چې د الله تعالی او د اسلامي دولت چارې په لاس کې واخلي نو دوی بايد له خپل منځه نيک عمله او سم خلک ددې چارو پر مخ بيولو لپاره وټاکي.

پدې اړه چې د حضرت محمد (ص) وروسته څوک او څنګه خليفه شي کوم څرګند قراني ايات او حديث نه دی راغلی او د مسلمانانو د پاچا، خليفه او رهبر ټاکل پخپل دوی ته پريښودل شوې دی څو د خپل ژوند له چارو او مصلحت سره سم دا کار ترسره کړي او يوازين ديني لارښوونه پدې اړه د شورا څخه ګټه اخيستل دي او د همدې اصل پر بنسټ وو چې مسلمانانو راشدين خليفه ګان له کوچنيو ډلو سره له مشورې وروسته ټاکل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د حضرت ابوبکر صدیق(رض) ټاکنه:** د ستر پیغمبر له وفات څخه وروسته انصار په ثقیفه بن ساعده کې سره راټول شول څو سعد بن عباده د خلیفه یا پیغمبر (ص) ځای ناستی وټاکي چې عمر (رض) له دې موضوع څخه خبر شو نو له ابوبکر او ابو عبیده بن جراح سره یوځای ثقیفه بن ساعدې ته لاړل، لومړی ابوبکر صدیق وینا وکړه او پدې کې یې قریشو ته دټاکلو د حق خبر څرګنده کړه له زرو څخه ډیرو غوښتل چې عمر یا ابو عبیده وټاکي خو عمر او ابوعبیدې وویل: مونږ ستا په حضور کې هیڅکله دغه دنده په غاړه نه شو اخیستلای ځکه چې ته په مهجرینوو کې غوره یې او ستر پیغمبر (ص) د ناروغۍ پرمهال د لمونځ امام ټاکل شوی وې نو پر همدې بنسټ له مونږ څخه یې ته ډیروړ یې؛
نو لاسونه دې را اوږده څوک مونږ درسره بیعت وکړو ابوبکرصدیق د هغوی دا غوښتنه ومنله او د انصارو له بیعت وروسته د لومړي اسلامي خلیفه په توګه وپیژندل شو.
ابوبکر صدیق(رض) په جماعت کې دې وینا ته خلک راوبلل:
ای! خلکو که څه هم زه پر تاسو خلیفه ټاکل شوی یم خوله تاسو څخه غوره نه یم، که چیرې مې نیک کارونه وکړل نو ملتیا مې وکړئ او که مې بد کارونه وکړل نو ما نیکې لارې ته سم کړئ ولې که چیرې مې د خدایتعالی او د هغه رسول له اطاعت څخه مخ واړوه نو زما اطاعت پر تاسو واجب نه دی.
څرنګه چې ولیدل شول چې ابوبکر صدیق (رض) یوازې د ثقیفه بن ساعده د خلکو بیعت نه بلکې د ټولې اسلامي نړې بیعت یې ترلاسه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د عمر(رض) ټاکنه:** کله چې ابوبکر صــدیق (رض) نــاروغ شــو او داســې احساس یې وکړ چې ګواکې مرګ یــې نــږدې دی او ســتر صــحابه پــه راوغوښتل او ورسره یې د عمر(رض) د خلیفه کیــدو خبــرې وکــړې لــه هوکړې وروسته یې له کړکۍ څخه سر رواویست او کوم خلک یې چې د کور ترڅنګ راټول شوي وو ورته وویل:

ما خپل ځای ناستی عمر ټاکلی ایا ستاسو خوښه ده؟

ټولو وویل هو! دغه راز دا موضوع ولیکله او نور د خلکو په منځ کې وویل شي.

خو د دې انتصاب په زړه پورې ټکی دا وه چې ابوبکر صــدیق لــه خپلــو خپلوانو څخه څوک ددې لپاره ونه ټاکــل، بلکــه عمــر رض چــې لــه ده وروسته د ټولو په وړاندې غوره ګڼل کېده ددې کار لپاره وګماره، خوا دا کار یې په تحمیلي ډول نه بلکې له هغوی ســره تــر مشــورې وروســته ترسره کړ.

**د حضرت عثمان (رض) ټاکنه:** کله چې عمر(رض) ټپي شو نو مســلمانانو ورڅخه وغوښتل چې یو څوک خپل ځای ناستی وټاکي هغه وویل:

زه نه غواړم څو دغه دروند مسئولیت نور هم په ژوند کې او هم له مړینې وروسته په غاړه واخلم ما دا موضوع د حضــرت محمــد (ص) لــه شــپږو جنتي یارانو سره ( علي، عثمان، عبدالرحمن بن عــوف، ســعد بــن ابــي وقاص، زبیر بن عوام او طلحه بن عبیــدالله) ســره شــریکه او څرګنــده کړېده.

زما زوی عبدالله هم پدې غونډه کې ګډون کولای شي خو د ټاکلو حق نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عمر(رض) له وفات څخه وروسته دا شپږ کسان سره راټول شول څو د خلافت لپاره یو تن وټاکي، زبیر خپل واک علي ته، طلحه عثمان ته او سعد عبدالرحمن ته ورکړ او عبدالرحمن هم له خپل واک څخه تیر شو په پایله کې علي او عثمان پاتې شول هغو دواړو خپل واک عبدالرحمن ته ورکړ څو ددوی له منځه یو وټاکي عبدالرحمن له مسلمانانو سره له درې شپو ورځو مشورې وروسته دې پایلې ته ورسید چې د خلکو خوښه عثمان دی نو پر همدې اساس یې عثمان وټاکه او خلکو په ټولنه یې اعلان وکړ وروسته بیا خلکو ورسره بیعت وکړ.

**د علي(رض) ټاکنه:** کله چې حضرت عثمان(رض) په شهادت ورسید نو د انصارو او مهاجرینو څخه عمومي صحابه د حضرت علي خواته لاړل او ترې یې غوښتنه وکړه څو د خلافت دغه دروند بار په اوږو واخلي خو هغه ونه منله ولې د ډیر ټینګیدو وروسته یې منلو ته چمتو شو.

د راشدینو خلفاو له ټاکل کېدو څخه داسې مالومیږي چې د مسلمانانو خلیفه باید د ټولو مشورې سره سم او یا هم د اکثریتو په خوښه وټاکل شي، البته هغه خلافتونه چې په میراثي یا د زور له لارې رامنځته کیږي کولای شو د پاچاهۍ نوم ورته ورکړو په یاد مو وي چې په اسلام کې هیڅوک پخپله خوښه د خلیفه کیدو لپاره ځان نشي ټاکلی بلکه د یوې لویې ټولنې له خوا چې اهل عقد شورا په نوم یادیږي چې د پرهیزګارو، خدای څخه ویرودنکو، رښتینو، عادلو او خیر غوښتونکو او د خلکو د باور وړ وي څخه جوړه شوې وي. البته د شخص په ټاکلو کې د خلکو رضایت شرط دی چې د شورا د غړو له لوري ټاکل کیږي پداسې حال کې چې په اوسني وخت کې د شورا وړ غړي په یوځای کې نه دي او هیواد

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مختلفو برخو تیت شویدي خو هغوی باید له مختلفـو برخـو څخـه د خلکو د ازادو رایو پر بنسټ وټاکل شي البته کـه همـدا وګـړي یـو بـل شخص د رهبری لپاره وړ بولي او ټاکي يې نو خلک هم بایـد د دوی لـه ټاکنو څخه اطاعت او فرانبرداری وکړي ځکه هغوی يې واقعـي اسـتازي دي که د شورا غړي د شخص په ټاکل کېدو سره موافقې ته ونه رسـېږي او دوه دور کسان ددې کار وړ وبولي نو په هغه صورت کې بیا عامه رایـو ته مراجعه کیږي او له دې دریو څخه د اکثریتو د رایو پر بنسټ یو ټاکـل کیږي. یا هم که چیرې په لویه جرګه کـې د شـورا د غـړو شـرایطو تـه پاملرنه وشي نو په وسیله يې کولای شي له اسلامي لارې د ستونزو حـل پیدا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پینځم څپرکی

## افغانستان او د ډیموکراسۍ نظام

د سردار محمد داودخان د جمهوري د دورې پرمهال د افغانستان قبیلوي او سنتي ټولنه د ټینګو ګامونو په اخیستوسره د ملت کېدو په لور روانه وه او په ضمن کې د ډېته چمتو کېدله چې د لیبرال اوقبیلوي نظامونو سره ګډ یو ډیموکراتیک نظام جوړ کړي خو له یو مهم حقیقت څخه باید یادونه وشي. چې د سردار محمد داود خان او محمد هاشم خان درې لسیزو دیکتاتورۍ ( دصدارت دروه) ددې ګرایش لپاره د د افغانستان په چمتو کولو کې اساسي لاملونه دي.
په خواشینې سره یې باید یادونه وشي چې د کمونیستي نظریو نفوذ چې د فریب او حیلګرۍ نظریې هم ورته ویل کیږي د دویمې نړیوالې جګړې وروسته یې د ډیموکراسۍ په لسیزه کې د ډیموکراسۍ ضد یعنې کمونیستي نظریو تخمونو وشیندل او قدرت ته له رسیدو سره سم هر ډول حقونه او ازادۍ غصب او د ډیموکراسۍ احلام له ذهنونو څخه ورک شو.
د خلق او پرچم او ترې وروسته لاس پوڅو او ځان غوښونکو درې کلنو کرغیړنو دورو نه یوازې زمونږ هیواد د منځنیو پیړیود دیکتاتوریو دورو په څیر بدل کړ بلکې د هیواد نظام یې هم په یو جهمني او ځنګلي قانون بدل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ځنګلي قــانون بانــدې د اختــه افغانســتان لپــاره اوس د هــیڅ ډول ډیموکراسۍ لکه اسلامي، قبیلوي، سنتي، او لیبرال غربي ډیموکراســۍ په پلي کولو سره نشو کولای د افغانستان اوسنۍ ناروغۍ درملنه کړو.
د بې هوښۍ دا ناورغۍ یوازې د نظامي دیکتاتورۍ د اصولو په پلي کولــو د درملنې وړ ده.
په اوسني وخت کې زمونږ هیواد په یوې داسې ناروغۍ اخته دی لکه چې بې شمېره مکروبونه سره یوځای شوي وي او داسې ناروغې یې رامنځته کړې وي چې له ایډز ناروغۍ څخه هم بــدتره او د درملنــې وړ نــه وي او انسان یې په وړاندې خپل مقاومت د لاســه ورکــړی وي او هــیڅ نشــي کولای او نه یې هم توان لري.
نو له همدې ځایه ده چې لیرې او نږدې قبر کــاړونکي او مــرده شــویان( هغه څوک چې مړي مینځي) ددې په تمه ناست دي څــو ددې نــاروغ د مړینې غږ واوري او ورڅخه په پاتې شوي میراث ګېډه واچوي.
له کومه ځایه چې د ناروغۍ د درملنې لپاره بیلابیلو ډاکټرانو ته مراجعــه کیږي او د دې مراجعې لپاره ډیر وخت انرژي او پیسو ته اړتیا پیداکیږي نو ددې پرځای چې یو ناروغ د معاینې لپاره مختلفو ډاکټرانو ته ورشــي ښه به دا چې پرځای یې یو پولي کلینک ته مراجعه وکړي او خپلــه هــر اړخیزه معاینه وکړي او د سمې نسخې په پلي کولو سره د مرده شــویانو او قبر ښکوونکو تمې له میراث څخه پرې کړي.
نو په همدې ډول زمونږ د هیواد د شدید سیاسي بحران د له منځه وړلــو لپاره یوه داسې د حل لاره ضروري ده چې ددې معضــلې ټــول اړخونــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پکې شامل وي ترخنګ يې بايد په قضيه کې د ښکيلو ډلو رضايت او قناعت هم ترلاسه شي.
البته ددغه جړ شوي تار( د هيواد سياسي معضله) بايد د خپلو ګوتو پر سره پداسې ډول پرانيزو چې نور پکې تېپونه وانخلو او د حقيقت لپاره ځان هم قرباني کړو، له هيواد سره مينه پيداکړو او ځان غوښتونکي ونه اوسو او له پراخې حوصلې څخه پکې کار واخلو.
له کومه ځايه چې په تيرو وختونو کې هم بيړني اقدامات زمونږ د هيواد لپاره بې ګټې وه نو دا ځل بايد په بشپړې پاملرنې سره له پراخې حوصلې څخه کار واخلو چې بيا وروسته پرې پښيمانه نه شو.
په کوم هيواد کې چې ملي اردو، پوليس، اساسي قانون، او نور دساتير په نوم پاتې وي نو په هغه هيواد کې ناپوهی، بيسوادی، ځان غوښتنې، خپلسری او ظلم دوام مومي او يو ځنګلي قانون به پکې چلېږي، او پدا ډول هيوادونو کې د ليبرال ډيموکراسی، سرمايه داري نظام او د نورو ډيموکراسېو پلي کول به هماغسې ناسم وي لکه څنګه چې په شوروي اتحاد کې په کمونستي ډول د کمونيستي اصولو پلي کول وو.
غربي او شرقي سياسي نظامونوغوښتل څو په سمه توګه پرته له دې چې د نورو ټولنو ذهني او عيني شرايطو په نظر کول په سمه توګه د خپلو نظرياتو د ځای پر ځای کولو په موخه او تش په نوم يې د سياسي او ايډيالوژيکي اصول په پلي کولو خپل زړونه خوشحالول او پدې سره يې نه يوازې نورې ټولنې په بدمرغی اخته کړې بلکه د خپل شرم ترڅنګ يې ځان له تباهی سره مخامخ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښنګه چې په هیواد کې اوسنی سیاسي بحران او رواني بـدمرغۍ هـم د بېځایه تقلید یا په بې موسمه وخت کې د پردیــو د سیاســي ایـډیالوژۍ پلي کول وو.
پر همدې بنسټ مونږ باید هوښیار واوسو او هغه څوک پرې نه ږدو چې د هیواد سیاسي معضلو په حل کې بیا د ډیموکراسۍ تش شعارونه، مـدني ازادۍ او بشري حقونه چې د دوی یاهغو افغانانو چې په غربي ټولنو کــې ژوند کړې وي او د هغوی د موخو د بشپړولو لپاره ګمــارل شــوي وي لــه خوا له وړاندې شي.
کله چې په افغانستان کې د ډیموکراسۍ د اصولو د پلــي اړونــد خبــرې کېږي نو نړیوال واکمن د خپلې ډیموکراسۍ د پلي کولــو پــه موخــه پــه ښکاره توګه د تبیض او تعصب بازار تودوي او د پلي کولو لپاره یې دا بې شرمانه عمل ترسره کوي.
پدې مانا چې که خپلې ګټې یې پکــې موجــودې وي نــو د مرســتندویه ځواکونو په وسیله هم د ډیموکراسۍ د اصولو پلي کولو هڅې کوي.
که چیرې د ډیموکرسۍ په پلي کولو کې د دوی د ګټو امکان پکې نه وي نغښتی نو نه یوازې له پلي کولو به یې لاس واخلي بلکه د بشرحقونو او د مدني ازادیو غصب به پخپلو سترګو ویني خو ددې کار د مخنیوي لپــاره هیڅ هم ترسره نه کړي حتی چې پخپلو ټنډو کې لړ ګونځې هم رانه ولي که څه هم دوی یې پخپله مستقیم یا غیر مستقیم لاملونه وي.
پداسې حال کې استعماري شــرقي او غربــي هیوادونــه د خپلــو خــود خواهانه، پلیتو، ناوړه او غیــر انســاني موخــو د ترلاســه کولــو لپــاره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان په دننه یا بهر کـې لاسـپوڅو پـه مرسـته زمـونږ هیـواد د ډیموکراسۍ له پلي کولو څخه په زرګونو کیلومیتره لرې ګذار کړ.
مونږ په اوسنیو شرایطو کې بې موسمه او د تش په نوم ډیموکراسۍ پلي کولو لپاره کوچنۍ اړتیا هم نه لرو.
مونږ برعکس باید د اسلامي عقیدې په چوکاټ ، ملي غـوره دودونـه، د هیواد لوړې ګټې په روښنایۍ کـې او پـه ربـړول شـویو افغانـانو د زړه سواندۍ لاره ونیسو چې په رښتیا سره په حساسو شـیبو کـې زمـونږ د هیوادوالو شته ستونزې حل کړي.
اوس یو داسې موقت حکومت ته اړتیا لرو چـې سـوله او امنیـت پکـې ټینګ او ګډوډۍ او وژنې له منځه لاړې شي او مونږ پکـې پـه مسـولانه ډول خپلې ملي ګټې په سمه توګه تامین کړو البته زمونږ ملي اهـداف د نیمه نظامي موقت حکومت په جوړولو او د نظامي مقرراتو په تامینو سره ترلاسه کیدای شي.
دغه راز ترڅنګ یې یو زړه سواندي او هیوادپال رهبر ته هم اړتیـا لـرو چې زمونږ د خلکوخدایي استعدادونه د کمونیستي او تنظیمي رهبرانـو برعکس په مثبتو لارو کې ترې ګټه پورته کړي څو پدې وسیله وتوانیږو چې خپل له اړخه وران شوی هیواد بیا جوړ کړو. ددې انسـاني، ملـي او اسلامي غوښتنو لپاره باید تر ټولو دمخه د سولې او امنیت د تـامین پـه موخه یوه نظامي شورا جوړه کړو، دغه انتخاب شورا به د نظامي مقرراتـو په چوکاټ او د یو نړیوال هئیت ترڅارنې لاندې خپلې دندې ترسره کړي او دا شورا باید له داسې لویو شخصیتونو څخـه جـوړه شـوې وي چـې متعصب او نورو هیوادونو پورې تړلي نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نظامي شورا:

تېرې تجربې دا حقیقت ثرګندوي چې که چیرې په یو هیواد کې د ټولو په خوښه سیاسي رهبران نه وي، او یا یې هم په منځ کې خپلمنځي اختلافات رامنځته شي نو پدې سره یې د دولتي چارو ثارنه له لاسه وځي؛ او په پایله کې به یې هیواد له سیاسي بې ثباتي او د اقتصاد له وروسته پاتې والي سره لاس او ګریوان شي.

پداسې حالاتو کې د هیواد با تدبیره او هیواد پاله نظامي شخصیتونه د ستونزو د حل او له سیاسي بحران څخه د وتو په موخه د هیواد ټولې دولتي چارې پخپله او یا هم د مناسبو او هیواد پاله اشخاصو په لاس کې ورکوي.

لکه څرنګه چې د پاکستان، ترکیې، اندونیزیا او فرانسې هیوادونو نظامي افسرانو د بحران د له منځه وړلو په موخه د خپل هیواد دولتي چارې په لاس کې واخیستې

دغه په تیرو نږدې وختونو کې مو پخپلو سترګو ولیدل چې په پاکستان کې د جمهور رئیس غلام اسحاق او صدراعظم نوازشریف ترمنځ خپلمنځي اختلافات او سیاسي بحران رامنځته شو، چې وروسته اردو پکې مداخله وکړه او د ښکیلو ډلو د باور وړ یو کس یې وګماره چې یو موقت حکومت جوړکړي څو د یو عادلانه او عمومي ټاکنو ته زمینه برابره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په موجوده شرايطو کې په افغانستان کې د هيواد ټولې دولتـــي چـارې د بې شميره وسلوالو ډلو په لاس کې دي او موقت ملکي حکومت د چـارو له څارنې څخه عاجز پاتې دی چې دلته اوس بايد له دويمې لارې يعنې د نظامي مداخلې څخه بايد ګټه واخيستل شي خو تردې ځايـه چــې پــه هيواد کې يو بيطرفه او مسئوله اردو نشته نو دلته بايد له شمير مسلمانو نظامي کارپوهانو او قومندانانو څخه يوه شورا جوړه شــي او وروســته دا کار ترسره کړي، البته شورا هغه وخت له خطر څخه وتـلای شــي چــې نړيواله ټولنه يې ملاتړ او مرسته ورسره وکړي او له بلې خــوا يــې بايــد غړي له ځانګړو معيارونو سره وټاکل شي.

**الف ـــ د افسرانو د ټاکلو معيارونه:**

۱ ـــ د لاس پوڅو ګوندونه د غړيتوب نه لرل؛

۲ ـــ په کمونيستي اردو کې کليدي موقف نه لرل؛

۳ ـــ د داود او کمونستانو په کودتاوو کې د بې کفايتي ريکارډ نه لرل؛

۴ ـــ د کمونستان او روس د تيري په وړاندې د بې توپيره احســاس نــه لرل؛

۵ ـــ د اسلامي مقاومت په وړاندې په جګړې کې برخه نلرل؛

۶ ـــ په ستراتيژۍ او تاکتيک کې دبشپړې تجربې او مالوماتو لرل؛

۷ ـــ تش په نوموم د عالي نظامي رتبې نه لرل؛

ب ـــ د قوماندان د ټاکلو معيارونه:

۱ ـــ د نظامي مسلکي او لوړو زده کړو لرل؛

۲ ـــ د نظامي رتبې څخه برخمن وي؛

۳ ـــ په جبهو کې د ځواکونو د ادارې ريکارډ لرل؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ ــــ په سختو او ستونزمنو شرایطو کې د اداري وړتیا او ریکارډ؛
۵ ــــ په څو نورو قوماندانانو باندې د حکمرفا ریکارډ؛
۶ ــــ د خلکو، مجاهدینو او قومندانانو له باور څخه برخمن وي؛
۷ ــــ د خلکو په ناموس په تیري او د هیواد په لوټونه کې ریکارډ نلرل؛
۸ ــــ د هیواد په ځانګړي ډول د کابل په وجاړونه او د خلکو په وژنه کــې دخیل نه وي؛

## ج ــــ ګډ( مشترک) معیارونه:

۱ ــــ د نوښت قدرت او رهبرۍ وړتیا؛
۲ ــــ د خپلسرۍ، ځان غوښتنې او رایي احساسات ونلري؛
۳ ــــ د ژبني، قومي، تنظیمي، سیمه ایز، سمتي او مذهبي تعصــباتو نــه لرل:
۴ ــــ ملي نوامیسو ته ژمن؛
۵ ــــ د ازادې پریکړې او د خلکو په ګټه د تصمیم نیولو جرئت؛
۶ ــــ د هیواد په کورنیو چارو کې پردیو د لاسوهنې مخالفت؛
۷ ــــ ریښتینی او د دوه مخۍ له تورونو څخه سپیڅلی وي؛
۸ ــــ د مسولیت له احساس او وړتیا څخه برخمن؛

ددې لپاره چې د ټاکنې تبعیض انګیزه له منځه تللــی وي نــو د شــورا د غړي باید له یوه ولایت څخه وټاکل شي.

د تنظیم، ژبې، قوم، او مذهب څخه استازیتوب باید په هیڅ وجه د ټاکلو معیار ونه شي او د یو ولایت څخه د غړو پــه ټــاکلو کــې بایــد پــورتني میعارونه په پام کې ونیول شي البته له نوماندانو څخه چې هریو تر ټولــو

(c) ketabton.com: The Digital Library

واجد شراط وي نو ودې ټاکل شي ځکه په اوسني وخت کې افغانستان يو منظمه ملي اردو نشته او د نظامي نماينده ګانو ټاکنه هم په سـمه توګـه نشي ترسره کېدای او ددې کار په ځنډ سره دردونکې پـايلې لـه ځـان سره ولري او ددې لارې د لا ډاډ لپـاره بايـد نړيوالـه ټولنـه او اسـلامي کنفرانس خپل کليدي ونډه په سمه توګه ترسه کړي.

## د نظامي شورا دندې:

د هيواد د خپلواکۍ ساتنه، ځمکنۍ بشپړتيا، د ملي حاکميت، او هيـواد کې د بشپړ امنيت تامين ټولې هغه موخې دي چې د رسـيدو لپـاره يـې بايد لاندې دندې ترسره شي.

۱ ــــ د نوي وسلوال ځواک، اردو او پوليسو رامنځته کول او تنظيم؛

۲ ــــ په هيواد کې له بيلابيلو وسلوال ډلـو څخـه د غيرقـانوني وسـلې راټولول او نظامي مرکزونو ته يې سپارل؛

۳ ــــ په ملي اردو، پوليسو او ژاندارام کې د هغو پخوانيو صاحب منصبانو ځای پرځای کول چې په لاسپوڅو ډلو پورې تړلـي نـه وي او يـاهم پـه ښکاره ډول په ملي خيانت او د هيوادوالو په وژنه تورن نه وي.

۴ ــــ د تنظيمي وسـلوالو ځواکونـو تنظيمـول او د اردو او پوليسـو پـه قطعاتو کې يې جذبول؛

۵ ــــ د پوليسو، اردو او ژاندارام پوليسو په قطعاتوکې د داوطلبو کسـانو جذبول؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۶ ـــ د هیواد په بیلابیلو برخو کې د قول اردو، فرقــوو او نــورو ځــایونو رغولو تنظیم او بشپړول؛**

**ب ـــ د سیاست او ملکي چــارو څخــه د وســلوالو او امنیتــي ځواکونــو ایستل ځکه تر هغه چې د هیواد په دننه کې د کودتاه په ترســره کولــو سره د اردو دغه فعالیت سیاسي کیږي او پدې سره ملت د بــدمرغۍ پــه لور بیایي البته په راتلونکي کې له دې ډول بدمرغیو څخه د ځان ساتنې لپاره باید لاندې اقدامات ترسره شي.**

**۱ ـــ د اردوو پولیسو او ژندارام هیڅ یو غړي ته ددې اجازه ورنکړل شي چې د سیاسي ګوندونو غړیتوب ترلاسه کړي اویا په سیاســي فعــالیتونو کې برخه واخلي.**

**۲ ـــ پولیسو او اردو ځواکونو ته باید د نورو عامو وګړو په څېر په ټــاکنو یوازې د رایې ورکول حق ورکړل شي.**

**۳ ـــ د ملي اردو او پولیسو منسوبین تر هغې نشي کولای چــې د ملــي شورا په ټاکنو کې ځان نوماند کړي څو یې چې له خپلې دندې استعفا نه وي ورکړې.**

**ج ـــ د وزارتونو، دولتي او غیر دولتي موسســو، لارو، پولــو د راتلونکــو ټاکنو او داسې نورو ځایونو د امنیت د تامین.**

**د ـــ د اصلي ملي شورا تر ټاکنو پورې د مــوقتې ملــي شــورا د کــارونو ترسره کول؛**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هـــــ د جمهور رئيس او سيدراعظم د قدرت داصطکاک د ساتنې په موخه بايد د نوماندانو له ډلې څخه په موقت ډول جمهور رئيس وټاکل شي او جمهوري نظام بايد پداسې ډول ترتيب شي چې سيدراعظم پکې شتون ونلري او په راتلونکي اساسي قانون کې دا اصل ځای پر ځای شي؛ ځکه د دريمې نړۍ په يو هيوادونو کې چې فعال جهمور رئيس او سيدراعظم شتون لري نو د سياسي بې ثباتۍ او ستونزو لاملونه ګرځېدلي ځکه په دا ډول هيوادونو کې د خلکو مدني روزنې او سياسي شعور دومره وده نه ده کړې چې، هر يو يې خپل ځانګړی مسئوليت او صلاحيت وپېژني، له خپلې بړستنې سره پښې وغځوي او د نورو په حقونو او صلاحيتونه تيری ونه کړي ځنګه چې د سياسي شعور په نشتون سره زمونږ د هيواد سيدراعظم او جهمور رئيس يو بل ته له خبرو تير نه شول او په پايله کې يې زمونږ د هيواد پلازمېنې اوسېدونکي د دوه کالو لپاره د بې اتفاقۍ په اور کې وسوځول او په ناحقه يې په وينو کې ولړل.**

## لنډمهاله حکومت:

**لنډ مهاله جمهور رئيس بايد تيرو لنډ مهالو حکومتونو ته په کتو سره د خپلې کابينې غړي په بشپړاحساس او مسئوليت سره وټاکي، ځکه چې تير موقت حکومتونه د بهرنيو هيوادونو د لاسوهنو او ائتلاف سره يوځای رامنځته شوي وه او د خلکولپاره يې هيڅ ډول ګټه نه لرله. دغه راز برعکس د تنظيمونو ترمنځ د وسلواله جنګ، د وژنو ، معيبوبيت، له کابل**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښخه د زرګونو هیوادوالو تیښته او د عامه وګړو د سرمایې لوټونې ســتر لاملونه هم همدا حکومتونه ؤ.
نو پدې سره باید راتلونکي موقت حکومت ته بایــد د تیــرو حکومتونــو برعکس پوره وخت ورکړل شي او پدې حکومت کې باید ټولې حکــومتي چارې او وزارتونه باید هیوادپالو، مســلمانو، مســئولیت پیژنــدونکو، لــه انرژۍ ډکو بیروکراتانو ته وسپارل شي. جمهور رئیس باید دا ټکی په پام کې ونیسي چې په حساسو شرایطو کې په وزارت کې مقررول یو امتیــاز نه بلکې یو ملي دروند مسئولیت دی نوپــدې ســره دا لازمــه ده چــې د راتلونکو ادارو ټاکنې په هر کچه چې وي نو اشتباهاتو ښخــه پــه کلکــه مخنیوی وشي.
ځکه چې کابینه د یو څو عادي کسانو د یوځای کېدو ځــای نــه بلکــه د سترو او متخصصواو د هیواد په چارو کې په کارپوهو شخصــیتونو ځــای دی دا پدې مانا ده چې جمهور رئیس د وزارتونو لپاره مسلکي او باتجربه اشخاص پیدا او د کابینې په لست کې یې شامل کړي او هر هغــه څــوک چې د وزارتونو لپاره ټاکل کیږي نو د خپلو راتلونکو کــارونو لپــاره بایــد ځانګړې تګلاره او پلانونه ولري څو په راتلونکي کې یې پخپله اداره کــې پلي کړي او که چیرې برعکس اشخاص وي، نــو لازمــه ده چــې خپلــې څوکۍ ښخه لاس واخلي اوخپل ځای په کار پوه او وړ کسانو ته پریږدي او د ملي ګټو لپاره خپلې پښې له بړستنې ښخه ونه باسي او پریږدي چې د دوی کارونه پــه کــارپوه، مســلمان، بااهلیــت، باکفایــت، او هیوادپالــه کارپوهانو ته وسپارل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لیدونکي په عقیده ترڅو د حکومتدارۍ په تګلاره کې بدلون ونه منل شي، په یو ځانګړي کلتور ټینګ نه شي او د ځانګړې ستراتیژۍ د ډاډ لپاره رامنځته نه شي، د تیرو دودونو په چوکاټ کې به کابینې جوړول په هیڅ ډول ګټور نه وي او نه به پکې د ګټې امکان وي.

د ننیو چارو ترسره کول یوازې تجربه لرونکي ( ټکنوکراټان) شخصیتونه کولای شي دا چارې په سمه توګه ترسره کړي او ددې چارو د ترسره کولو لپاره باید ناهله کسان ونه ګمارل شي.

که چیرې یو طبیب د مالې وزیر په توګه، د زراعت متخصص د عدلې وزیر په توګه او د معادن انجینر د اطلاعات او کلتور په توګه وټاکل شي نو دا د نني عصر سره خلاف او زیات اړونکې پریکړې دي،

که چیرې یو ځوک په کومه برخه کې تخصص نلري او له بشپړې زده کړې څخه برخمن نه نو که چیرې داسې اشخاصو ته په دولتي چارو کې دنده ورکړل شي نو دې کړنې ته (( اداري کفر)) نوم ورکولای شو.

جمهور رئیس باید د خپلې راتلونکې کابینې لپاره مناسب او وړ اشخاص پیدا او وټاکي، نه دتیرو بې کفایته اشخاصو په څیر چې بیلابیلې بدمرغۍ رامنځته او په راتلونکي کې د خپلې او د نورو له شرمنده ګۍ څخه ځان وژغوري.

حکومت باید تر هر څه دمخه د اصولي کړنو د ترسره کولو په موخه په چټکۍ سره د ؛ بهرني سیاست، کورني سیاست، امنیتي او دفاعي سیاست، اقتصادي سیاست، فرهنګي سیاست، د عامه خدماتو ترسره کولو سیاست او د مطبوعاتي سیاست لپاره طرحې جوړې کړي او د همدې طرحو د پلي کولو لپاره برنامه ریزي وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې لپاره چې راتلونکی حکومت او نظامي شورا وکولای شي چې خپلې ټولې دندې د امن او سوله ایزه فضا یو د بل په مرسته پـه سـمه توګـه ترسره کړي.
او ترڅنګ يې باید د دفاع، کورنیو چارو وزارت او د ملي امنیت ریاسـت نظامي شورا ته وسپارل شي او امنیت د تامین ټـول مسـئولیت نظـامي شورا
ته ورکړل شي.

## د لنډ مهاله حکومت دندې:

۱ ـــ په نوې بڼه د پولیسو او اردو ځواکونو رامنځته کـول او د غیرقـانې وسلو په راټلو کې له نظامي شورا سره مرسته وکړي څو سوله او امنیـت دنورو فعالیتونو د ترسره کولو لپاره لار پرانیزي.
۲ ـــ د پرچمیانو څخه په میراث پاتې کابینـه یـو ځـل بیـا جـوړه او د مجاهدینو د دورې د بې نظمه او بې بندوباره وزارتونه بیرتـه د نظـم پـه چوکاټ کې راولي.
۳ ـــ د کرنې، مالدارۍ، صنعت، سوداګرۍ چارو او اولیـه خـدمات لکـه: اوبه، بریښنا، روغتون، ښوونځي او کوپون ته د عادي شـراطو پـه څیـر ځای ورکړي.
۴ ـــ له ګاونډیو، د سیمې، اسیایي او غربي هیوادونه او ملل متحد سره د ډیپلوماټیکو اړیکو جوړول، د خوښۍ وړ هیوادونو د مقیم او غیـر مقـیم سفارتونو اړتیا، د پخوانیو حکومتونو نړیوالې ژمنې، او د شوروي اتحاد له

(c) ketabton.com: The Digital Library

متجاوز حکومت څخه د تاوان اخیستلو لپاره د لازمو تدابیرو نیول چې پدې وسیله د مرستو د جلبولو زمینه برابره شي.
۵ ـــ پداسې حال کې چې د هیواد بیخبینا او اقتصادي حالت د بحران په وروستي حالت کې قرار لري او د اقتصاد رغښت هم د حکومت تر ټولو ستونزمنه دنده کېدای شي، څکه کرنه، مالداري، بهرني تجارت، محدودې صنایع او د کانونو استخراج تقریباً په ټپه دریدلی دی، بانکونه او د دولتي او غیر دولتي موسسو ټول توکي چور او لوټ شویدي نو د پورتنیو ستونزو د حل په موخه له نړیوالو څخه د مرستو او قرضونو غوښتنه وشي، د ګازو د کان ، سیمنټو، ډبرو سکاره او د اوسپنې او مسو د استخراج لپاره باید دولت لاس په کار شي، بلج شوې صنعتي موسسې بیا فعالې کړي، او د ګمرکي عوادو د زیاتوالي په موخه باید قاچاق په ټپه ودرول شي.
۶ ـــ د افغان مهاجرینو د بیرته راستنیدو لپاره د وسایلو او هغوی د اوسیدو لپاره ځمکه چمتو او په واک کې ورکړل شي.
۷ـــ په جدي توګه په هیواد کې د بهرنیو هیوادونو د لاسوهنې مخنیوی وشي.
۸ ـــ د پلان په وزارت کې د بیارغونې د ټولو چارو تنظیم او د ناوړه ګټه اخیستونکو اشخاصو څخه چې په نوم د بیارغوې خبرې کوي له ګمارلو څخه مخنیوی وشي.
۹ ـــ په هیواد د د تحمیلي جګړې اود بهرهنیو د لاسوهنې په ترځ کې د وګړو ترمنځ د رامنځته شویو مخالفتونو، دښمنیو، بې باوریو او د همدې ټولنیزې ناروغۍ د له منځه وړلو لپاره په جدي توګه کار وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰ ــــ د اساسي، ګوندونو، او د ټاکنو قانون تسوید او د تصویب لپاره یې ملي لویه جرګه چې د دودیزې او د اهل شورا غړو جوړښت دی رامنځته شي.

۱۱ ــــ د ملي شورا او انتخابي حکومت ټاکنې باید د خلکو له بــاور ســره سمې ترسره شي او په همدې ځای کــې د نظــامي شــورا او لنــډ مهالــه حکومت کارونه پای ته رسیږي د وګــړو پــه ژونــد کــې یــوه نــوې دوره پیلیــږي. البتــه وروســته لــه دې دورې وروســته داشــونې ده چــې ډیموکراسۍ، بشر حقونه او مدني ازادۍ په پام کې ونیول شي او د تامین لپاره یې کار وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحريک له هېواد پال او فرهنګپال شخصيت ښاغلي (سيد فضل الله وحيدي ) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته يې اوږه ورکړه. ملي تحريک وياړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ يې پيل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هيله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

يو ځل بيا د دې اثر له ژباړونکي او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د ژباړلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مينه

د افغانستان ملي تحريک

(c) ketabton.com: The Digital Library



M Niazi

# WHICH KIND OF DEMOCRACY DO AFGHANS NEED?

Writer: Pr:Habib Ull Rahman Hala

Translator: Mohammad Akbar Niazi

د ژباړن د خپرونو لړ: ۴

د تحریک دخپرونو لړ: ۱۰۳

د افغانستان ملي تحریک

www.melitahrik.com

۱۰۳

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**